



د سارتر ژوند، فلسفه او ویناوې

# ژان پل سارتر

Ketabton.com

تالیف: مصطفی صفا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يو انسان د نورو انسانانو ثمره ده او په همغه اندازه ارزښت لري لکه نور انسانان چې يې لري.**

**«سارتر»**



# ژان پل سارتر

د سارتر ژوند، فلسفه او ويناوې


**مؤلف: مصطفی صفا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سارتر :

«دوزخ یعنې تاسې
جهنم یعنې د تاسو او یا نورو خلکو حضور
یا انسان، انسان ته دوزخ دی
او هر انسان ته بل انسان جهنم دی»



## غني :

«دې ګوګل کې مې د ننه
هم دوزخ دی، هم جنت...
دې ګوګل کې مې د ننه
هم دنیا ده، هم عقبا
دا هم لاره، هم کاروان دی
هم تدبیر دی، هم قسمت
پروت په دې کې ټول داستان دی
د جزا او د سزا»

د کتاب موضوعات:

فلسفه د پوهې کړکۍ

سارتر څوک ؤ؟

سارتر او اګزیستنسیالېزم

د سارتر او غني خان د افکارو پرتلنه

د سارتر لنډې ویناوې

سارتر په انځورونو کې

ماخذونه



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سریزې پرځای

# فلسفه د پوهې کړکۍ...

موږ تل په خپل ځان کې یو مبهم غږ اورو... زموږ د ژوند زیاته برخه بې معنا ده او په شک، وېره او عبث والي کې ضایع کېږي؛ موږ له هغو بې نظمیو سره په جګړه کې یو، چې ځینې په موږ کې دننه او ځینې له موږ څخه د باندې دي؛ خو موږ داسې ورسره احساسوو، چې که چېرې خپله اروا راوسپړو، په هغو کې به یو مهم او معنادار شی ځان راوښیي. موږ په شیانو باندې د پوهېدلو په لټه کې یو، زموږ لپاره د ژوند معنا دا ده، چې خپل ځان او هر هغه شی، چې موږ ورسره مخامخ کېږو، ځانته روښانه کړو...

موږ غواړو د هغو شیانو شکل او ارزښت د خپل نظر په تله کې وتلو، چې زموږ سترګې ورسره مخامخ کېږي، ترڅو په دغه ډول خپل ځانونه د ورځنیو پېښو له توپان څخه وژغورو.

موږ غواړو مخکې له دې چې رابانديې ناوخته شي، ځینې واړه مسایل رالوی کړو ... موږ غواړو د ستونزو او کړکېچونو پروړاندې خپله خوښي له لاسه ورنکړو او ان د مرګ پرمهال هم پرشونډو موسکا ولرو. موږ غواړو کامل او بشپړ ووسو، خپل ځواکونه او استعدادونه وآزمویو او هغه ته نظم، ترتیب او همغږي وبښو.[(۱)]
«تاریخ فلسفه»

هر انسان د زړه له تله غواړي، په هغه څه وپوهېږي، چې له ده نه پټ دي. د رازونو د سپړلو معنا په حقیقت کې پوهېدل دي، په تېره بیا د ژوندانه او نړۍ په اړه په حقیقت پوهېدل، هر چا ته پر زړه پورې دي. ځکه د ژوندانه برخلیک ورسره تړلی دی او هرڅوک غواړي، چې په هرځای کې ښه ژوند وکړي او ښه برخلیک ولري[(۲)] «فلسفه د جنون او جانان»

د حقیقت د پېژندلو او له هغو سره د انسان د جوړجاړي لپاره «فلسفه» لومړۍ کړکۍ ده، چې د حقیقت په لور پرانیستل کېږي.

فلسفه اوس مهال ساکنه او ولاړه په نظر راځي، خو دا حالت یې له دې سببه دی، چې د خپلې بریا ثمرې یې خپلو اولادونو یعنې علم او پوهې ته په میراث ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، خو نومورړي لا تراوسه د مجهولاتو او ناڅرګندو ټاټوبيو په کشف پسې وتې ده. [۳] «تاريخ فلسفه، ويل دورانت»

دا نړۍ او دهغه د رازونو ځولۍ دومره ارته او پراخه ده او دومره تياره او پټ ګوټونه لري، چې که انسان ميلياردونه کاله نور هم په همداسې پرله پسې څېړنه او پرمختګ کې تېرکړي، بيا به يې هم مخې ته د رازونو يو داسې بې پايه سمندر پروت وي، چې دی به يې د تل او کچ د موندلو لپاره لالهانده وي او لا به يې د پوهې تنده پرې ماته نه شي. [۴] «فلسفه د جنون او جانان»

فلسفي شاعر «غني خان» په خپل يوه شعر کې د همداسې راوزونو له کهکشان سره مخ شوی، چې ليکي:

«يو ټکي د رنګ کې، درياب رنګارنګ...
د ژوند يوه لمحه کې، سوونه عمرونه
په لپه ايرو کې، ښارونه د تور
د هر ګل په شونډو، رازونه د طور
خاورينه څرمن کې، خندا او غرور
دې بُت کې د خاورو، دا تال د ابد
د ښاځکي په مخ کې، جمال د ابد
ثبوت ما نه لوی ستا د ځان کوم دی
ګواه ما نه ښه ستا د شان کوم دی» [۵] «لټون، د غني کليات»

فلسفه په مرموزو او له اسرارو ډکو شېبو کې ګام اخيستل دي.

فلسفه بشر دې ته هڅوي، چې د ژوندانه او بې پايه نړۍ په اړه ژور فکر وکړي او د هغوی د حقيقت د روښانه لمر په وړاندې د رازونو ځړېدلې پردې يوې ډډې ته کړي [۶] «فلسفه د جنون او جانان»

فلسفه د انسان د کاري برخې تر ټولو پراخه ساحه ده او موږ هغې ته د يوه ځانګړي شي په مټ هېڅکله هم بريد نه شو ټاکلی. د فلسفې عمر ته که راشو، نو د مځکې پرمخ د انسان له عمر سره پرتله کيدای شي. فلسفې د تاريخ په اوږدو کې زيات بدلونونه ليدلي دي او په هره دوره کي يې له تېر مهال سره جوت توپيرونه پيدا کړي دي. ددغې موخې لپاره دا خبره بسنه کوي. چې دهغې بېلا بېلو تعريفونو ته وکتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فلسفې یوه مانا په فکري استعدادنو باندي د هغې اطلاق بلل کيږي، څو انسان ته دا وس ورکړي، چي شيان، پيښې او ډول ډول چاري له ډېر لوړ او پراخ ليد څخه وځيري او په دې توګه د وخت او ژوند پېښې په پوره ډاډ، باور او آرامتيا سره وزغمي. فلسفه په دې مانا سره د حکمت انډول يا مترادفه ده.
له بلې خوا فلسفه داسي یوه پوهه ده، چي غواړي تر ټولو بنسټيزو حقيقتونو ته لاره اواره کړي .
«ابن سينا» وايي: فلسفه د ټولو شيانو په حقيقتونو باندي پوهاوي ته ويل کيږي، په دومره اندازه چي د انسان په وس پوره وي. فلسفه د خپل ژوند له لوړېو ورځو څخه یوه سپېڅلي او پراخه بشري پوهه بلل کيږي. دغه راز فلسفې ته الهي پوهه هم ويل کيږي. (۷) «انټرنېټ»
فلسفه انسان ته د اشياؤ د ذاتي پېژندنې په موخه د هغو له حقايقو او مباديو څخه پرده پورته کوي. فلسفه پر پوهې عمل دی. فلسفه هغه فکري خوځښت دی، چې د انسان او جهان ترمنځ جوړجاړي راولي. فلسفه د کايناتو د موندلو لپاره یوه بشري هڅه ده. فلسفه له مجهولاتو څخه د معلوماتو په لور د انسان د بېولو وسيله ده. فلسفې ته په اوسنۍ زمانه کې د پوهې د یوې داسې مور خطاب شوی، چې ټوله شتمني يې داوسنيو علومو ترمنځ وېشل شوې ده.
«نن ورځ د ټولو فلسفي سيستمونو د نظريو رښتنواله او ناربښتنواله د ساينس او منطق په تله تلل کيږي او همدا د معيار په توګه ګڼل شوي دي. کله چې یوه فلسفي نظريه په همدغه تله وتلل شوه او پوره وختنه نوره نو د فلسفې له کړۍ راووځي او د پوهې په یوه څانګه پوري ونښلي... لنډه دا چې فلسفه «ولې؟» او ساينس «څرنګه؟» ته په ځواب موندلو پسې لالهانده دي.» (۸)
«فلسفه د جنون او جانان»
دا چې علمي شناخت او معرفت له عقله پيدا کيږي، مګر بيا هم عقل په ټوله معنا نه راضي کوي، ځکه چې انسان طبعاً د جهان د شناخت او پرحقيقت د معرفت د موندلو تلوسه لري. (۹) «فلسفه ، محمدنادرايوبي»
د انسان دغه تلوسه کله ناکله د انسان په ذهن کې داسې پوښتنې راپاروي، چې نه ساينس تراوسه په خپلو تجربو کې روښانه کړې او نه تخنيک.

- زه څوک يم؟
- ولې يم؟
- ولې راغلی او راوستل شوی يم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د وخت حقیقت څه دی؟
- ایا ژوند کومه مانا لري او که یې لري نو څنګه به په هغې باندي پوهېږو؟
- ایا داسې کیدای شي چي یو شی دې شتون ولري او د هغه لامل دې نه وي؟
- زموږ پوهه واقعیت لري او که یوازي تېولشیان د تنداري غوندي دي؟
- جسم، زمان، مکان، هستي او نیستي څه شی دي؟
- ایا موجودات بې انتها دي؟
- خدای(ج) ولې نه لیدل کېږي؟
- روح څه شی دی؟
- ایا یوازې هغه شیان او موجودات چې زموږ بهرني او تنني حواس یې حسوي ومنو او که عقل، فکر، تجربه او قیاس سم وبولو؟...

زموږ د فلسفي شاعر«غني خان» په ځینو شعرونو کې هم دغه ډول پوښتنې ځان راښیي، د ساري په توګه، نوموړی په یوه شعر کې وایي:

موږ بربنډ له کومه راشو په تش لاس؟
ولې جوړ کړو، دین، ایمان، وېره، وسواس؟
په تش لاس کوم خواته ځو، چې ژوند شي خلاص؟
په کوم ملک، په کوم وطن، په کومه لاره؟
دا ویرونه، دا غوغا، دا شور د څه دی؟...
زندګي څه ده، مرګ څه دی، ګور د څه دی؟
چا پسې، څه پسې، څه له بې قراراه؟
عزت څه دی، طاقت څومره، دولت څه وي؟
ولې ما ته چې وي ښه، بل ته ښه نه وي؟...
یو وړوکی سر او دا قیصې بې شماره
څه لپاره، څه لپاره، څه لپاره؟

له انسان سره دا او دې ته ورته زرګونه پوښتنې د فلسفې بنسټونه جوړوي. له همدې امله د امریکا مشهورفیلسوف «ویلیام جېمز» وایي: «په موږ کې هریو فیلسوف دی، پوه یا ناپوه. موږ تل په دې هڅه کې یو، چې په هغو چارو نظر ورکړو، چې په موږ پورې اړه لري او یا هم په دې اړه تصمیم نیسو او د تصمیم د نیولو همدا اړتیا د عقل او پوهې پرلوري راښکون، هماغه لامل دی، چې له موږ څخه فیلسوفان جوړوي.»(۱۰)

«په فلسفه کې تلپاتې پیښې»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته پوښتنه راولاړېږي، چې که داسې وي، نو بیا ولې د هرچا له نامه سره د «**فیلسوف**» کلمه نه لیکو او د افکارو په تاریخ کې یوازې د ګوتو په شمېر څو فیلسوفان پېژنو او بس؟ ددې پوښتنې لنډ ځواب چې «هرچا چې څه وغوښتل، هماغه ته به ورسېږي»، موږ ځکه هرچا ته په علمي لحاظ فیلسوف نه وایو، چې ټولو دا نه دي غوښتي او نه هم دې وزګار دي، چې د فلسفې پوښتنو په اړه خپل افکار بشپړ راټول او د ټاکلیو آرونو په رڼا کې ژوره وده ورکړي، خو هغه څوک چې د ژوندانه په نورو چارو کې ډېر نه دی بوخت شوی او د حقیقت موندلو ته یې کار ویلی او ددغه کار لپاره یې یوسیستم غوره کړی، موږ هماغه ته «فیلسوف» وایو. (۱۱)

«فلسفه د جنون او جانان»

په نړۍ کې په اساسي او باقاعده ډول داسې فیلسوفان شته، چې د خپلو څېړنو او برسېرونو له مخې په نړیواله کچه شهرت او محبوبیت لري. د ساري په توګه، سقراط، ارسطو، افلاطون، اپیکور، سیسرون، ابونصرفارابي، ابن رشید، ابن خلدون، تامس هابز، رنه ډکارټ، جان لاک، باروخ سپینوزا، فرانسیس بیکن، امانویل کانټ، ژان ژاک روسو، شوپنهاور، هېګل، فریدریش نېچې، ویلیام جیمز، جان ډیوي، سانټایانا، هربرټ سپنسر، برتراندراسل، کروچه، ژان پل سارتر او نور یادولی شو.

په دغو پاڼو کې د معاصر فیلسوف او لیکوال «**ژان پل سارتر**» په ژوند، اند او ادبي او فلسفي رول باندې خبرې شوې دي، هیله ده، خوند ترې واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





«لیکوال او شاعر دواړه له ژبې سره، سروکار لري، خو د دواړو چلند بېل دی... داسمه ده، چې نثر لیکونکی یې هم لیکي او شاعریې هم لیکي؛ خو د دواړو ډولونو د لیکلو ترمنځ توپیر موجود دی. ګډه وجه یې یوازې د لاس خوځښت دی، چې کلمات پرې لیکي، پردې سربېره، دده نړۍ او د هغه بل سره جلا دي. هغه څه چې د یوه چا لپاره رښتوني دي، د بل لپاره نه دي...»

(سارتر)



«زما خیال دی، چې په ژوند کې د یوه شاعر مرام او هدف له یوه مبلغ او ملا څخه بیخي جلا او بل شان دی... یو شاعر باید د فکر او خیال، قول او عمل په ډګر کې د ښکلا او ښایست عبادت وکړي او انسان دې ته مجبور کړي، چې هغه د خپلو خواهشاتو له ګندګیو څخه خپل مخ د خپل باغي عدن خواته واړوي. دا کار په پند او نصیحت نه شي کېدای، زما هغه خلک بد ایسي، چې ما ته نصیحتونه کوي.»

(غنی خان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سارتر څوک ؤ؟

## «د سارتر ژوند او هلې ځلې»

**ژان پل سارتر** د فرانسې د شلمې میلادي پېړۍ یونامتو فیلسوف، د نوبل د ادبي جایزې ګټونکی لیکوال، سوله غوښتونکی سیاستوال، ادبي کره کتونکی او د اګزیستېنسیالېزم د فلسفي مکتب په پلویانو کې یو مهم او مخکښ شخصیت شمېرل کېږي.

څېړونکي وایي که څه هم د وجودي فلسفې«**اګزیستېنسیالېزم**» بنسټ د نورو فیلسوفانو له خوا ایښودل شوی دی، خو دا «**سارتر**» ؤ، چې دغې فلسفې ته یې نړیوال شهرت ورکړ. د دوی په اند په شلمه میلادي پېړۍ کې هېڅ یو فیلسوف د سارتر په اندازه مشهور نه شو. دا ځکه چې نوموړی نه یوازې د فلسفي مسایلو شنونکی او مفکر ؤ، بلکې د ګڼو داستانونو، نندارلیکونو او ادبي مقالو لیکوال او ویناوال هم ؤ. دده د شهرت یو لامل دا هم ښودل شوی، چې ده د خپل وخت او ماحول د نورو روښانفکرانو په پرتله ډېر ساده او قلندرانه ژوند کاوه او د خپلې ټولنې د ځینو دودونو او رواجونو پروړاندې یې بې پروایي ښودله.

د سارتر اثار او افکار د نړۍ په ګڼو ژوندیو ژبو باندې ژباړل شوي دي او په نړیواله کچه لوستونکي او مینه وال لري. د پښتو ادب وتلی څېړونکی استادمحمدصدیق روهي لیکي:«د سارتر د اثارو لوستونکي ډېر زیات دي او ښایي، چې زیاتره لوستونکي به یې هغه کسان وي، چې دده له وینا څخه خوند اخلي، خو موافقه ورسره نه کوي.»
استاد روهي دغه مطلب په یوه بله کرښه کې داسې روښانوي:«آیا لوستونکي رومان ددې لپاره لولي، چې هغه کټ مټ رښتیا دی؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا هم د سارتر په اثارو کې د هغه د خپل ایډیالوژیک او فلسفي رنګ ترڅنګ د ادبي ادا او ښکلا داسې قوت او زړه راښکون شته، چې لا تر اوسه یې پر لوستونکو او مینه والو کې کمی نه دی راغلی.

سارتر په **۱۹۰۵**م کال د فرانسې په پلازمېنه پاریس کې نړۍ ته راغلی دی. د سارتر پلار «**ژان باپتیست سارتر ، ۱۸۴۷–۱۹۰۶**» د سمندري قواو افسر ؤ او مور یې «**آنه ماري، ۱۸۸۲–۱۹۶۹**» په سوله کې د نوبل د جایزې د ګټونکي «**ډاکترالبرټ شوایتزر**» د تره لور وه، دوی یعنې د سارتر مور او پلار په **۱۹۰۴**م کال کې واده سره وکړ او یو کال وروسته یې سارتر پیداشو، سارتر د **۱۵**میاشتو ؤ، چې پلار یې د ژېړې تبې له امله مړ شو او مور یې د خپل پلار «**شارل شوایتزر**» کره ولاړه.

سارتر د خپل ماشومتوب د وخت دغه دردناک حالت، په خپل اثر «**کلمات**» کې چې په پاخه عمر کې یې لیکلی دی، داسې بیانوي: «... زما نیکه شارل شوایتزر، زما د پلار ترمړینې مخکې د تقاعد غوښتنه کړې وه، خو کله چې ما او مور مې پناه وروړه، نیکه مې هغه غوښتنه بېرته واخیسته او بیا یې په کار پیل وکړ... زما د پلار مړینې زه او زما مور له خوبه راویښ کړو، کله چې پوه شوم، چې څه راپېښ دي، اندېښنو په سر واخیستم، د مور مې یوازې ما ته سترګې وې، خو ما خپل ځان له هغو سره پردی احساساوه... د نیکه په کور کې به مې ویل کېدل، ستا د پلار د مړینې ګناه د هغه پرخپله غاړه وه. دا هغه جمله وه، چې څوځله مې د خپلې نیا له خولې اورېدلې ده، هغې به دا هم ورسره غبرګوله، چې پلار دې د ژوند د ستونزو له بار څخه اورېې سپکې کړې. نیکه مې له بلې خوا په هغه مرحوم باندې پړه اچوله، چې څنګه یې په **۳۰** کلنۍ کې له نړۍ سترګې پټولې؟ په دې توګه به د خپل زوم له غمه ووت، چې ګواکې داسې موجود نور په نړۍ کې له بېخه شته نه دی. خو ما هغه نشوای هېرولی، ځکه زما پلار داسې ځالي خالي کړی ؤ، چې ما له هغو سره د هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول پېژند ګلوي فرصت ونه موند... له هغه وخته چې ما خپل ښی او چپ لاس پېژندلی، په خپله ګناه باندې هم پوه شوی یم، هر یتیم هلک له سخت حساسیت سره لاس او ګرېوان وي او تل خپل ځان خطاکار بولي، فکر کوي، چې مور او پلار یې له هغه څخه بېزاره ؤ، ځکه یې هغه ترک کړی دی او د تل لپاره ترې ابدي ځالې ته الوتي دي... هغه مهال زما مور هم د خپل برخلیک له ستونزو سره مخ وه، پرله پسې غمونو او بې خوبۍ مې له مور څخه د زړه روز اخیستی ؤ، شیدې یې وچې شوې او زه یې دایې ته وسپارلم. له مور څخه جدایي، په ما کې په ناروغۍ بدله شوه، د مرګ او ژوند ترمنځ شوم. وروسته مې داسې فکر کاوه، چې زه د دې لپاره نړۍ ته راغلی یم، چې یوازې مړ شم، یو ناڅغورلی ماشوم د پلار غېږې ته پناه وړي، مګر ما د پلار غېږې ته پناه یو نه وړه او له هغې څخه لیرې ولوېدم... هر وخت به مې مور ډاډ راکاوه او راته ویل به یې، چې ته د نړۍ تر ټولو خوشبخت ماشوم یې! مګر دا مې هم نه شوای کولی، چې د مور دغه خبره ونه منم او هغه څه چې ما لیدل ونه زغمم. له ځانه سره به مې ویل، آیا زه په رښتیا خوشبخت یم؟ ما د خپلې هغې بې کسۍ د بیان لپاره چې په ځان کې مې احساسوله، هېڅکله الفاظ پیدا نه کړل، ښایي سبب به یې دا ؤ، چې زه یې هېڅ وخت یوازې پرېښودی نه یم... په دې ډول شپې ورځې راباندې تېرېدې، ساه مو ایستله، خواړه مو خوړل، په ډېرو کیسو کې نه ؤ او ژوند ته مو ادامه ورکوله، ځکه چې ژوند مو پیل کړی ؤ... »

د سارتر نیکه «**شارل شوایتزر**» د الماني ژبې استاد ؤ او کورنی اقتصادي حالت یې ښه ؤ. ده د خپلې لور په خاطر سارتر ته زیاته پاملرنه درلوده، سارتر یې په مور باندې ګران ؤ، پاک یې ساته او اوږده وېښتان یې ورته پرېښي وو. سارتر پخپله په دې اړه لیکلي:« زما اختیار د لویانو په لاس کې ؤ، زما عادت ؤ، چې خپل ځان د هغو په نظر کې ووینم، هغوی غوښتل زما په وجود کې د لوی سړي خوی ځای پرځای کړي، کله به چې له ما څخه لیرې هم ؤ، نو د ستر ګو تر کونجو به یې څارلم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما به منډې وهلې، ساتېرې مې کولې، خو د دوی پاملرنه راپسې وه، د لوبو وسایل به یې راته راوړل او نړۍ به یې زما لپاره د ساتېرۍ وړ ګرځوله... نیکه به مې چې کوم وخت، زما اوږده وېښتان لیدل، مور ته به مې یې په غصه ناک انداز ویل، تا دغه هلک د نجلۍ په شان جوړ کړی دی! دا کار مې نه خوښېږي، وېرېږم دغه ماشوم د ښځو په شان ډارن او نازک آموخته نه کړې...»

سارتر دری کلن ؤ، چې ښۍ سترګه یې ناروغه شوه او ورو ورو یې خپل ځیر له لاسه ورکړ، همدا لامل ؤ، چې ده د ژوند ترپایه پورې عینکې په سترګو کولې او خپلې یوازنۍ چپې سترګې ته یې زیاته پاملرنه کوله. سارتر په ماشومتوب کې د نورو ماشومانو په پرتله وړه ونه درلوده، حتی کله چې لوی هم شو له قده ټیټکی سړی ؤ، دغه ټکي ته ان په ماشومتوب کې دده د مور پام ؤ، خو هڅه یې کوله چې ماشوم سارتر له دغه ټکي ځخه ونه ځورېږي. سارتر په دې اړه لیکلي: « زما مور چې له قده لوړه او د ښکلې څېرې خاونده وه، نو د سپکاوي زغم یې نه درلود، هڅه به یې کوله، چې زما وړوکی قد کومه جدي خبره ونه ګڼي، دې به زما او د ځان د زړه ښه کولو لپاره ویل، موږ شوایتززان لوړې لوړې ونې لرو او د سارتر د پلارګنۍ خلک ټیټ قدي دي، زما زوی هم له دې اړخه خپل پلار ته ورته دی. خو کله به چې د نورو ماشومانو منډو رامنډو ته متوجه شوه او زه به یې یوازې او خفه ولیدلم، نو هڅولم به یې، چې هسې نه زه خپل ځان سپک او ناڅېزه وګڼم، په داسې حال کې چې ما د هغې خلاف فکر کاوه او هېڅکله مې خپل ځان ناڅېزه او وړوکی نه دی انګېرلی او نه مې له دې ټکي د کوم رنځ احساس کړی دی...»

د سارتر نیکه «**شارل شوایتزر**» په خپل کور کې د خپل ځان لپاره یوشخصي کتابتون درلود، ددغه کتابتون الماری په آلماني او فرانسوي ژبو باندې له بېلابېلو علمي او فرهنګي کتابونو ځخه ډکې وې. سارتر به هر وخت د خپل نیکه په کتابونو کې د خپل ذوق کتابونه لټول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سارتر لا ښوونځي ته نه ؤ تللی، چې خپلې مور يې ليکل او لوستل ور وښودل. سارتر به د ورځې زياته برخه د خپل نيکه په کتابتون کې د کتابونو په لوستلو باندې تېروله. کله به يې لوستل او کله به يې له هغو څخه ليک ليکه، په دې اساس نوموړی يو کورناستی هلک ؤ او له خپلو همزولو سره يې ډېره کمه ناسته ولاړه درلوده.

نوموړی د خپل دغه وخت ځينې يادونه په خپل کتاب «**کلمات**» کې په خورا جالب انداز راوړي دي. دی ليکي: «هرڅومره چې خپل فکرونه د تېرمهال په لوري وراړوم او د خپل ماشومتوب کلونه په ياد راوړم، نو د ماشومانه ناپوهيو او نورو ناسمو کارونو کوم اثر مې پکې نه ترسترګو کېږي، هېڅکله مې د نورو ماشومانو په څېر په خاورو کې لاس نه دی وهلی، ځالې مې نه دي ورانې کړې، بوټي مې نه دي شکولي او په مرغيو پسې مې کاڼي نه دي ويشتي. بلکې زمالپاره مرغۍ، ځالې، اهلي ژوي، کروندې او هرڅه کتابونه ؤ. کتابتون راته د يوې داسې هنداري بڼه درلوده، چې په هغه کې د ټولې نړۍ تصوير موجود ؤ. کله به چې په دغه کتابتون کې فکر يووړم، نو د لايتناهي نړۍ عظمت به مې د هغو له ټولو رنګارنګيو سره په سترګو ليده... د نيکه د کتابونو پوره واک مې درلود، ساعتونه ساعتونه به د کتابونو په منځ کې ناستوم، ورځ تربلې د ډېرو پوهانو له نومونو سره اشنا کېدلم، اوس فکر کوم، چې زما معنوي وده له همدغه ځايه پيل شوې ده.»

سارتر د کتابونو په منځ کې رالويېدو، زياتره وخت به د مېز شاته ناست ؤ، يا به يې څه لوستل او يا به يې ليکل، مور به يې هر ماښام ورنه پوښتنه کوله، چې نن دې څه شی زده کړل؟ او کوم کتاب دې ولوست؟ سارتر د دغو شېبو يوه ډېره په زړه پورې خاطره ليکي:

«زما مور به هم بې کاره نه پاتې کېدله او زما د تشويق لپاره به يې چې څه په وس وو، هغه يې کول. څوک به چې زموږ کور ته راتلل، پر ته له دې چې ما ته خبر راکړي، هغه به يې هغې خونې ته راوستل، چې زما ميز

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکې اېښې ؤ، دا کار به يې ددې لپاره کاوه، چې ما هغو ته د کار پرمهال وروښيي، زما به هم ورته پام ؤ، خو ځان به مې يو ډول بوخت او متفکر ښوده او دا هم ددې لپاره چې زيات د ستاينې وړ وګرځم. مېلمه به چې ځو شېبې ماته وکتل، نو په آرامۍ سره به د پښو په سرو له هغې کوټې راووت او په بله کوټه کې به يې زما ستاينه کوله. دغه حالت ماته د ټولو ګاونډيانو پاملرنه را اړولې وه. مور مې هڅه کوله، چې خلکو ته وښيي، چې زوی مې فوق العاده استعداد لري او پرته له کوم ښوونکي څخه يې له خپله ځانه ليکل او لوستل زده کړي دي، خو نيا به مې مور ته ويل، چې تاسې ددغه ماشوم په ښوونه او روزنه کې له زيات شدت څخه کار اخلئ او که چېرې دغه حالت همداسې پرمخ ولاړ شي، ليرې نه ده، چې دغه ماشوم به يوازې هډوکي پاتې شي... »

د سارتر عمر د ۷ کلو په شاوخوا کې ؤ، چې مور او نيکه يې د «**څلورم هانري**» ښوونځي ته واستاوه. ددغه ښوونځي مدير د سارتر له نيکه سره پېژندل، په دې اساس نوموړي مدير به په سارتر باندې چې د نورو زده کوونکو په پرتله آرام او ګوښه ګير غوندې ؤ ځانګړی پام کاوه. سارتر په خپل ټولګي کې د هغو زده کوونکو له ډلې څخه ؤ، چې په ليک او لوست باندې به يې ښه سرخلاصېده. ښايي يو لامل به يې دا ؤ، چې هغه مخکې له مخکې په خپل کور کې له ليک، لوست او کتاب سره اشنا شوی ؤ.

سارتر چې کله ۱۲ کلنۍ ته ورسېد، مور يې له يوه سړي سره چې «ژوزف مانسي» نومېد او د سارتر د پلار پخوانی ملګری ؤ واده وکړ او نور يې له خپل دغه نوي خاوند سره د «**لاروشل**» ښار ته کډه وکړه. که څه هم سارتر له خپلې مور سره ولاړ، خو د خپلې مور له دغې پرېکړې څخه ناراضه ؤ.

سارتر د «لاروشل» د ښار په يوه ښوونځي کې خپلې زده کړې ته ادامه ورکړه. نوموړی تر ۱۵ کلنۍ پورې همدغلته په زده کړه بوخت ؤ، خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ښوونځي کې د زده کوونکو ناوړه حالت او ناسم روزنيز چاپېريال دده د زړه تنګی لامل شوی ؤ، همغه وو، چې په ۱۹۲۰م کال پلازمېنې پاريس ته راواستول شو او دلته د شپې په يوه لېسه کې په زده کړه بوخت شو. په دغه لېسه کې ده له خپل يوه ټولګيوال سره چې «**پل نيزان**» نومېدو ملګرتيا ټينګه کړه. نيزان هم د سارتر په شان د ماشومانه شخړو او شوخيو پرځای له ليکلو او لوستلو سره مينه درلوده. دغه هلک فرانسوي ادبياتو ته د سارتر په پام را اړولو کې لوی رول درلود.

سارتر په ۱۹۲۲م کال چې عمر يې ۱۷ کلونو ته رسېده، له يادې لېسې څخه د فراغت برېليک ترلاسه کړ. ترفراغت وروسته ده له خپل ملګري نيزان سره يوځای پرېکړه وکړه، چې د پاريس په پوهنتون کې لوړې زده کړې وکړي. دوی په همدغه هوډ، په ۱۹۲۴م کال نوموړي پوهنتون ته لاره پيدا کړه او هلته يې په ګډه سره د يوې مجلې چې «**بې نومه کوچينۍ مجله**» نومېده په خپرولو باندې پيل وکړ.

سارتر په دغه پوهنتون کې د نيزان په څېر نور دوستان هم پيدا کړل، چې دغو ټولو دده په علمي او عملي ژوند کې ځانګړی رول درلود. ده د تحصيل په څو کلنه دوره کې د فرانسې د اوولسمې ميلادي پېړۍ د ستر فيلسوف «**دکارت**» په راسيونالېزم «**د عقل اصالت**» باندې حمله وکړه او داسې نورې فلسفي او ادبي مقالې يې هم خپرې کړې.

په ۱۹۲۹م کال سارتر په **لومړۍ درجه** ددغه پوهنتون د فلسفي علومو له څانګې څخه د خپل فراغت برېليک ترلاسه کړ. د «**سيمون دوبوار**» په نوم يوه ښځه په دوهمه درجه او «**نيزان**» په څلورمه درجه کې راغلل.

سارتر د پوهنتون په وروستي يعنې «۱۹۲۹م»کال کې له خپلې ټولګيوالې «**سيمون دوبوار**» سره واده وکړ. څېړونکي وايي، سارتر له بورژوايي واده سره مخالفت کاوه او له همدې امله يې له سيمون دوبوار سره د ژوند ترپايه پورې د ملګرتيا ژوند وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**«سیمون دو بووار»** هم د شلمې پېړۍ یوه تکړه لیکواله او د اګزیستېنسیالیزم د فلسفي مکتب پلوۍ ګڼل کېږي، نوموړې په ۱۹۰۸م کال د پاریس په یوه شتمنه کاتولیکه کورنۍ کې زیږېدلې وه. ریاضي او فلسفه یې په یوه کاتولیک انستیتیوت کې او ادبیات یې د «سنټ مارین» په ښوونیزه مرکز کې او د فلسفې په برخه کې یې لوړې زده کړې د «سوربن» په پوهنتون کې سرته رسولې وې، ددې مشهور کتاب «دوهم جنس» نومېږي، چې په ۱۹۴۹م کال لیکل شوی دی، په دغه کتاب کې د هغو ظلمونو په اړه په خورا تفصیل او تحلیل سره بحث کوي، چې د تاریخ په اوږدو کې په ښځو باندې شوي دي. دا کتاب ترخپرېدا څو کاله وروسته له فرانسوي ژبې څخه انګلیسي وژباړل شو او په ګڼ شمېرټوکونو کې په امریکا کې خپور شو. ددې هېڅ کوم اولاد پیدا نه شو، نوموړې په یوه مرکه کې په دې اړه ویلي:

«هېڅکله مې له دې ټکي افسوس نه دی کړی، چې د کوم اولاد څښتنه نه شوم، دغه ټکی زما لپاره جالب ؤ، البته له دې سببه نه چې له اولاد څخه مې بد راځي. هغه مهال چې زه په تانده ځوانۍ کې وم، غوښتل مې د خپل ماما له زوی «ژاک» سره واده وکړم، طبعي ده چې د اولادارۍ فکر مې هم کړی ؤ، مګر کله چې مې له سارتر سره ژوند شو، نو زموږ ترمنځ دغه د جوجاړي رابطه د روښانفکرۍ پر اساس وه، نه په کوم بل سبب... ما چندان علاقه نه درلوده، چې له سارتر څخه دې څه ولرم، پخپله همدی زما لپاره کافي وو... او همداسې زه هم د خپل ځان لپاره کافي وم...فکر کوم، کوم ډول ژوند چې موږ غوره کړی، ډېره اړتیا پکې نشته، چې زه دې پکې د یوې مونثې رول ولوبوم»

سارتر چې کله له پوهنتون څخه فارغ شو، د **«لوهاورو»** او **«لیون»** په کالجونو کې د فلسفې په تدریس بوخت شو. نوموړي د تدریس پرمهال هم له نورو فلسفي او ادبي مطالعاتو څخه لاس نه لنډاوه. ده په ۱۹۳۱م کال د وجودي فسلفې خواته تمایل وښود او هغه یې په خپلو ادبي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسفي ليکنو کې منعکس کړ. دوه کاله وروسته له يوه تحصيلي بورس څخه په استفادې د نورو فلسفي زده کړو په موخه «المان» ته ولاړ او په «برلين» کې يې په خپلو زده کړو او څېړنو لاس پورې کړ. سارتر په الماني او فرانسوي ژبو ان د ماشومتوب له دورې څخه ليکل او لوستل کولی شوی. ده دلته د المان د وتليو او منليو فيلسوفانو اثار او افکار مطالعه کړل. په دغه فيلسوفانو کې يو تن «مارټين هايدګر» ؤ، چې تر ټولو فيلسوفانو يې زيات د سارتر فکر اغېزمن کړ.

**مارټين هايدګر** «Martin Heidegger، ۱۸۸۹–۱۹۷۶م» هم د شلمې پېړۍ په مخکښو فيلسوفانو کې شمېرل کېږي. نوموړی د المان لوېديځې خواته د آلپ د غرونو په لمنو کې په يوه کليواله مذهبي او عنعنوي کورنۍ کې زېږدلی ؤ، زده کړې يې د المان په معتبرو پوهنتونونو کې سرته رسولې وې او په فلسفه کې يې لويه مطالعه درلوده، نوموړي بېلابېلې دندې ترسره کړې وې، چې تر ټولو مهمه يې د فرايبورګ د پوهنتون رياست يادولی شو. دده د علمي او فلسفي اثارو شمېر «۶۰» ته رسېږي او د وجودي فلسفې په برخه کې يې نويو نظرياتو تر ده وروسته فيلسوفان تر اغېز لاندې راوستلي دي.

په فرانسه کې د هايدګر د فلسفې اغېز په **۱۹۳۵**م کال کې پيل شو، دا هغه وخت ؤ، چې د هايدګر د «زمان او وجود» او «متافزيک څه شی دی؟» کتابونه د سارتر او نورو روښانفکرانو له خوا مطالعه شول. څېړونکي وايي د هايدګر د افکارو اغېز په فرانسه کې د لومړي ځل لپاره د ژان پل سارتر په فلسفي بحثونو کې څرګند شو.

سارتر په المان کې ؤ، چې **دوهمې نړيوالې جګړې** روز واخيست. په همدې اساس بېرته فرانسې ته راغی، خو څرنګه چې نوموړی تردغو شېبو پورې له سياست څخه ليرې سړی ؤ، مګر تردې وروسته د فرانسې د ژغورنې په فکر کې شو. دی په عين غيرنظامي توب کې، پرته له هېڅ ډول وېرې د جنګ ليکو ته ننوت او د نقشې اخيستونکي په دنده يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکې پيل وکړ. سارتر ددې کار ترڅنګ له فرصتونو څخه په ګټه اخيستو د ۹ مياشتو په اوږدو کې ۲۰۰۰مخونه ليکنې وکړې، چې وروسته د هغو يوه برخه «**د جنګ د ناپوهۍ دفترونه**» په نوم چاپ شوه.

سارتر د جګړې په ليکو کې په ۱۹۴۰م کال ونيول شو او د بند لپاره **المان** ته يوووړل شو، دی په زندان کې د انساني ژوند له کړکېچنو اړخونو سره اشنا شو، هلته يې د ځان په شان ډېر نور زندانيان وليدل، ده به زندانيانو ته ترنيموشپو پورې کيسې کولې، له دې امله د زندانيانو ورسره زيا ته مينه پيدا شوه، خو دده په راخلاصون پسې هلې ځلې روانې وې، په پايله کې د ډاکترۍ د يولړ جعلي اسنادونه په جوړولو سره په ۱۹۴۱م کال کې له زندانه راخوشي شو.

سارتر يو پلټونکی خوی درلود، ده ان په اته کلنۍ کې رومان ته ورته ليکنې کولې، د ليکوالۍ مهارت او فلسفي ژورليدونو د وخت په تېرېدو سره تردې پورې را ورساوه، چې وروسته يې اثار د فرانسې له پولو واوښتل او د نړيوال ادب او فرهنګ په ورشو ورګډ شول.

سارتر لکه چې په مخکنيو پاڼو کې يادونه وشوه، ساده ژوند درلود، د ساده ژوند مينه وال ؤ او د شتو او پيسو په زېرمه کولو کې به يې چندان فکر نه کاوه، دی ليکي: «ماهېڅکله د مالکيت احساس نه دی کړی، ځکه چې کله به د نيکه په کور کې وم او کله به د پلندر کره اوسېدم، په خپل کور کې هېڅ وخت نه يم اوسېدلی، زما د ژوند اړتياوې به نورو پوره کولې.»، خو وروسته چې دی لوی شو او د خپلو اثارو د خپرولو له لارې پيسې لاسته راوړې، هغه به يې هم بې دريغه خرڅولې، نوموړی ليکي: «**هېڅکله د شتو خاوند نه شوم، خو د تنګلاسۍ ستونزې مې هم نه دي ليدلې.**»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل کېږي، د سارتر لومړنۍ ادبي او څېړنيزې هڅې د خپروونکو له هر کلي سره مخامخ نه شوې، څو تحقيقي اثار يې بې اثره پاتې شول. د «**شکست**» په نوم اثر يې له شکست سره مخامخ شو او د «**باريونا**» په نوم ډرامه يې په تراژيديک ډول له چاپه پاتې شوه. خو سارتر هېڅکله له خپل کار او زيار څخه لاس وانه خيست. ده په ۱۹۳۸م کال د «**تهوع يا کانګې**» د اثر په ليکلو شهرت ترلاسه کړل، دغه اثر له چاپ څخه دوه کاله وروسته يعنې په ۱۹۵۰م کال د فرانسې د شلمې پېړۍ له څوغوره ادبي اثارو له ډلې څخه وشمېرل شو، چې پخپله سارتر هم د ژوند ترپايه پورې خپل دغه اثر ترټولو غوره اثر ګاڼه، سارتر پخپله دغه بريا بسنه ونه کړه، او څوکاله وروسته يعنې په ۱۹۴۴م کال يې د خپل بل مهم فلسفي اثر «**هستي او نيستي**» په ليکلو سره ځان د شلمې پېړۍ د اوچتو فيلسوفانو په کتار کې ودراوه. خو کله يې چې د خپل ماشومتوب د وخت اټوبيوګرافي «په خپله باندې د خپل ژوندليک ليکنه» د «**کلمات**» په نوم په خورا ساده او استادانه ډول وليکله، نو سارتر يې د **نوبل** د ادبي جايزې د ګټونکو په لېست کې راوست. سارتر خپل قلم د ژوند تر وروستيو وختو پورې وچلاوه او له بېلابېلو ورځنيو بوختياؤ سره داسې نور ادبي او فلسفي اثار هم وپنځول، چې په زرګونو لوستونکي يې پر ځان رامات کړل.

خو هېره دې نه وي چې دده اثارو د مينه والو ترڅنګ ځينې مخالفان هم پيدا کړل، چې اګزيستېنسياليزم او په ځانګړي ډول د سارتر افکار يې د ټولنې منل شويو دودونو او اخلاقي معيارونو ته ګواښ بلل. د سارتر پر وړاندې دغه اوازې يو مهال ددې لامل شوې، چې په ۱۹۴۸م کال په «**واتيکان**» کې دده د اثارو په خپراوي او لوستلو باندې بنديز ولګول شو؛ خو دغه بنديز، دده د اثارو د نور شهرت لامل شو.

**د سارتر د مشهورو اثارو نومونه په لاندې ډول دي:**

- کانګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ادبيات څه شي دي؟
- د جنايت شور
- دېوال
- په دوربين کې
- مچان
- وتل ممنوع دي
- د عقل سن
- لوی روسپي
- د خپلواکۍ لار
- بودلر
- خيرن لاسونه
- د آلتونا ګوښه ګيران
- په کيوبا کې د شکرې جګړه
- د تروا ښځې
- کلمات
- هستي او نيستي
- تخيل
- کار له کاره تېر شو
- د عواطفو په اړه د يوې نظريې طرحه
- په روح کې مړينه
- بې کفنه سړي
- څرخ ډنډه
- لويه فاجعه
- وروستي مهلت
- نکراسوف
- بنده کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دیوه رئیس کوچینوالی
- د دیالتیک عقل کره کتنه
- لوبغاړی او قرباني
- نېکمرغه کورنۍ
- د روښانفکرانو په دفاع کې
- اګزیستېنسیالېزم او د بشر اصالت
- او نورې زیاتې مقالې او مرکې...

سارتر د خپلو علمي، ادبي او فلسفي هلو ځلو ترڅنګ له سیاست څخه هم لرې نه دی پاتې شوی. لکه مخکې مو چې وویل، ده په دوهمه نړیواله جګړه کې په عملي توګه ګډون وکړ او یو کال د المانیانو له خوا بندي کړی شو، خو کله چې راخوشي شو، د علمي هلوځلو ترڅنګ یې سیاسي هلې ځلې هم پیل کړې. ده په ۱۹۹۴م کال د جمهوري دیموکراتیک جمهوریت په نامه سیاسي ګوند تشکیل کړ، خو په ۱۹۵۲م کال د دغه ګوند له سقوط وروسته دی کمونستانو ته ورنژدې شو. په ۱۹۵۴م کال سارتر شوروي اتحاد، سکانډنیاویا، افریقا، د امریکې متحده ایالاتو او کیوبا ته سفر وکړ او په وروستي هېواد «کیوبا» کې د قهرمان په توګه استقبال شو.

په ۱۹۶۴م کال سارتر د نوبل د ادبي جایزې مستحق وګڼل شو، خو ده دغه جایزه ونه منله او ویې ویل، چې دغه جایزه د بورژوازي د ایډیالوژۍ په خدمت کې ده.

په ۱۹۶۷م کال د نړۍ د سوله غوښتونکو له خوا په ویتنام کې د امریکې د امپریالېزم د جنایتونو په هکله یوه بین المللي محکمه جوړه شوه، سارتر د دې محکمې د رئیس په توګه وټاکل شو او ورپسې یې د «**عام قتل**» په نوم مقاله خپره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سارتر چې کله د **کمونېزم** خواته تمایل پیداکړ، نو تریوه بریده یې له اګزیستېنسیالېزم څخه لاس واخیست او حتیٰ له خپل یوه نږدې ملګري لیکوال «**البرټ کامو**» سره یې اړیکې وشلېدې.
البرټ کامو چې د ژوند کلونه یې له **۱۹۱۳**م څخه تر **۱۹۶۰**م کال پورې دي، د سارتر په څېر یو فلسفي لیکوال ؤ او په **۱۹۵۷**م کال یې د **۴۴** کلنۍ په عمر ، یعنې له سارتر څخه **۸** کاله وړاندې د نوبل جایزه ګټلې وه. ده له سارتر سره زیات کلونه د ادب او فلسفې په ډګر کې ملګرتیا درلوده، خو یومهال د دوی ترمنځ دغه ملګرتیا له منځه ولاړه.
**رضاسیدحسیني** د خپل کتاب «مکتب های ادبي» په دوهم ټوک کې د دوی د ملګرتیا د جوړېدو او ورانېدو په هکله لیکلي: (سارتر او کامو مخکې له دې چې یو بل وپېژني، هریوه داسې اثار لیکلي وو، چې دوی ته یې شهرت ورکړی ؤ؛ خو بیاهم د دوی ترمنځ ځینې ګډ ټکي شته وو. په دې توګه سارتر د کامو یو اثر «**بېګانه**» وستایه او کامو د سارتر دوه اثرونه «**کانګې**» او «**دېوال**» وستایل. مګر بیا هم ددغو دوولیکوالو یوله بل سره متفاوت نړۍ لید درلود. سارتر له طبیعت څخه ترهه او کرکه درلوده او کامو د مدیترانې په لمر باندې مَیَن ؤ. ددغو دوو لیکوالو ملګرتیا د فرانسې تر آزادۍ وروسته ټینګه شوه او کامو هم د سارتر له اګزیستېنسیالېزم څخه ملاتړ وکړ؛ خو په **۱۹۵۲**م کال د دوی دواړو ترمنځ د اړیکو پرېکون غوغا راوپاروله. د دوی ترمنځ اختلاف د سیاسي تمایلاتو له امله ؤ. سارتر مخکې له مخکې د شوروي له کمونېزم سره علاقه وښوده او کامو ترهرڅه وړاندې له هغو څخه وېره او کرکه درلوده. دغه بېلتون په واقعیت کې له هستۍ او ادبیاتو څخه د دوو متفاوتو برداشتونو او اخیستنو له امله ؤ. چې وروسته انسان پالنه، عصیان، میل، نېکمرغي او له ښکلي سبک سره مینه د **کامو** په کار کې او تعهد، سیاست، انقلاب، وسوسه او له ادبیاتو څخه بېزاري د **سارتر** په کار کې راښکاره شول.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سارتر هېڅکله په خپل ژوند کې د کمونېزم رسمي غړيتوب وانه خيست او حتیٰ د کمونستانو ځينې وحشيانه اعمال يې په خپلو ليکنو او ويناؤ کې په سختتو الفاظو سره وغندل.
په ۱۹۶۷م کال د کيوبا ولسمشر «**فيډل کاسترو**» سارتر ته بلنه ورکړه، چې په کيوبا کې په يوه کلتوري کانګرس کې ګډون وکړي، ده دغه بلنه ومنله، خو د روماتېزم ناروغۍ سارتر ته موقع ورنکړه، چې په نوموړي کانګرس کې ګډون وکړي.
سارتر د ژوند په وروستيو کلونو کې د ليدلو ځواک له لاسه ورکړ او له ګڼ شمېر نورو جسمي کمزوريو او ناروغيو سره هم لاس او ګرېوان شو، نوموړي په ۷۰ کلنۍ کې د يوې مرکې په ترڅ کې د خپل صحت په اړه وويل:
«راته مشکله ده، چې ووايم، حال مې ښه دی، مګر دا هم نه شم ويلی، چې بد دی، دوه کاله کېږي، چې له يوشمېر ستونزو سره مخ يم، په ځانګړي ډول کله چې تر يوه کيلومتر زيات پلی ځم، پښې مې درد کوي، له همدې امله پلې ګرځېدا په همدغه اندازه کوم. له بلې خوا د وينې له شديد فشار سره مخ وم، خو په دې وروستيو کې په ناڅاپي توګه ورڅخه ژغورل شوی يم. تر ټولو مهم دا چې چپه سترګه مې هم له ستونزو سره مخ شوه، زما دغه يوازنۍ سالمه سترګه وه، ښۍ سترګې خو مې آن په درې کلنۍ کې د ليدلو ځواک له لاسه ورکړی ؤ. اوس په مبهم ډول شيان وينم. رنګ او رڼا معلومولی شم، مګر شيان په سمه توګه نشم ليدلی او نه نور لوستل او ليکل کولی شم، که رښتيا ووايم، د ليکلو ځواک راپکې مړ نه دی، کله ناکله توري او کلمې د کاغذ پرمخ رسموم، خو کله چې يې وليکم، هغه بيا نه شم کولی، چې ويې لولم. لوست راته په مطلق ډول ناشونی دی، کرښې او د کلمو ترمنځ فاصلې وينم، خو په خپله کلمې نه شم تشخيصولی، خو څرنګه چې نور له ليکلو او لوستلو څخه محروم شوی يم، نو زما لپاره نور هېڅ امکان پاتې نه دی، چې د يوه ليکوال په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار وکړم، له دې مخې د لیکوالۍ فعالیت مې په بشپړ ډول پای ته رسېدلی دی... حافظه مې غالباً ښه ده، خو ځینې وخت د نومونو په برخه کې راسره یاري نه کوي، زیاتره وخت یې په ډېره مشکله په یاد راوړم، خو کله داسې هم شي، چې له بېخه مې په یاد نه راځي، مګر لا تر اوسه په لاره باندې یوازې تللی شم...»

په دغه مرکه کې له سارتر څخه تر پورتنیو توضیحاتو وروسته پوښتل شوي: «ددې ټولو ترڅنګ، له لیکوالۍ سره د اړیکو پرېکول، یو سخت او درونډ ګوزار دی، خو تاسې څنګه له هغو څخه په آرامۍ خبرې کوئ ؟»

سارتر په ځواب کې وایي: «دغه ټکي زه له وجودي لحاظه په بشپړ ډول له منځه وړی یم. ویلی شم، زه وم، مګر نور نشته یم... زه چې کوم وخت په هغه څه باندې فکر کوم، چې له لاسه مې ورکړي، نو هېڅ وخت د غم او خفګان احساس نه کوم او نه مې کړی دی...»

...په پای کې د سولې، آزادۍ او هستۍ دغه ستر فیلسوف په ۱۹۸۰م کال د **۷۵** کلنۍ په عمر د تل لپاره له نړۍ څخه رخصت واخیست، خو نوم یې د تاریخ د یوه ستر شخصیت په توګه نړۍ ته پاتې شو، د نوموړي د خښولو په مراسمو کې چې په پاریس کې ترسره کېدل «**۵۰۰۰۰**» پنځوس زره کسانو ګډون کړی ؤ.

د سارتر له مړینې څخه دری کاله وروسته مېرمن سیمون دوبوار «**د خدای پامانۍ مراسم**» په نوم یو کتاب د دغه فیلسوف د ژوند او مړینې په هکله خپور کړ.

سیمون دوبوار شپږ ۶ کاله وروسته یعنې په ۱۹۸۶م کال د ۷۸ کلو په عمر له ژوند سره مخه ښه وکړه او جسد یې د سارتر د قبر ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سارتر او اګزیستنسیالېزم

اګزیستنسیالېزم د جهان د هغو اړخونو عکاسي کوي، چې نامطلوبې، ناوړه او تاواني وي؛ په دې اساس لومړی باید د موضوعاتو منفي، تاواني او ناوړه خواوې څرګندې شي، وروسته هغو ته تغیر ورکړل شي، دیوه متفکر او لیکوال دنده دا ده، چې د موضوعاتو غلطۍ او بدۍ څرګندې کړي... اګزیستنسیالېزم یوه عمل پلوه هڅه ده. زموږ فلسفه وايي، هر سست په خپله سست عنصره شخص، خپل ځان عنصره کړی دی او هر قهرمان شخص، پخپله له خپل ځانه قهرمان جوړ کړی دی. د سست عنصره شخص لپاره تل دا امکان شته، چې نور سست عنصره ونه ووسېږي. همداسې د قهرمان شخص لپاره هم دا امکان شته، چې له قهرمانۍ څخه لاس ووینځي. هغه څه چې حساب وربانديې کېږي، یوازې د انسان عمل او مسئولیت دی، چې د هغه شخصیت ټاکي.

(سارتر)



(c) ketabton.com: The Digital Library

ژان پل سارتر

# سارتر او اګزیستېنسیالېزم

د فلسفې په تاریخ کې اګزیستېنسیالېزم «Existenialisme» یوه نوې اصطلاح ده، چې د شلمې میلادي پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې منځته راغلې ده. دغه اصطلاح د اګزیستېنس «Existence» له کلمې څخه چې د «وجود» په معنا ده او د فرانسوي ژبې د «Existentiel» او د انګلسي د «Exitence» له کلمو څخه چې د «وجودي» معنا ورکوي اخیستل شوې ده، چې په ټولیز ډول د «وجود د اصالت» یا «د وجود د مخکې والي» معنا ښیندي.
په «اریانا دایرة المعارف» کې راغلي «اګزیستېنسیالېزم د لاتینې کلمې اګزوس څخه اخیستل شوی دی، چې د شتوالي او د وجود د ماهیت معنا ورکوي.
په انګریزي ژبه کې اګزیستېنسیال له اګزیسن چې د وجود په عالم کې د واقع کېدو معنا ورکوي، اخیستل شوی دی او اګزیستېنسیال د وجود د اصالت معنا ورکوي.»
دا چې له دغې کلمې څخه هدف «د وجود اصالت» دی، نو په دې اساس ویلی شو، چې دغه مفهوم نه یوازې په شلمه میلادي پېړۍ کې منځته راغلی دی، بلکې په ځینو پخوانیو فلسفو کې هم «د وجود د اصالت» او «د ماهیت د اصالت» موضوع ګانې راغلې وې، خو دومره په جدي او مشخصه توګه ورباندې بحث نه ؤ شوی، لکه د اګزیستېنسیالېزم پلویانو چې ورباندې وکړ.
استاد محمدصدیق روهي په خپل نامتو اثر «ادبي څېړنې» کې لیکي:
« اګزیستېنسیالېزم یا د وجود فلسفه د معاصر وخت یوه غیرعقلي «Irrationalistic» تمایل دی، چې د روشنفکرانو د ځینو قشرونو د تفکر ډول منعکسوي.»
څېړونکي وایي، په اروپا کې د نوې اروا پوهنې منځته راتګ د زیاترو پوهانو په فکر کې بدلون راوست، په ځانګړې توګه د «زیګموندفروید» او «کارل ګوستاویونګ» په وسیله د «لاشعور» او «ټولنیزشعور» کشف د عقل کمزورتیا څرګنده کړه؛ دوی وویل د انسان په ذهن کې داسې برخه شته، چې انسان په هغو باندې کنټرول نه لري او نه یې د پوهې او عقل لاس رسی ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، دغې برخې ته دوی د «لاشعور» یا «تحت الشعور» نوم ورکړ. ښایي دغو برسېرونو په اګزیستنسیالستانو هم اغېز کړی وي او ښایي همدا لامل وي، چې د دغې فلسفي څانګې یو پلوی «مارتین هایدګر» وایي:
«عقل د تفکر او بالاخره د تخیل د ښمن دی.»
د څېړونکو په اند اګزیستنسیالېزم د هغې فلسفې او عقیدې نوم دی، چې شعار یې «څرګندونه، اړونه او بل ډول کول دي» له دې څخه د دوی مطلب دا دی، چې په یو عمل، حرکت، سیاست او نورو مسایلو کې باید لومړی د هغو ناسمې او منفي خواوې څرګندې شي او وروسته ورته سمون او بدلون ورکړل شي.
استاد روهي د دغې فلسفې او پرهغو باندې د «اګزیستنسیالېزم» د نوم اېښودلو په باب لیکي: (که څه هم اګزیستنسیالېزم له دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته وده وکړه، خو د دې فلسفې ریښې په نولسمه پېړۍ کې هم لیدلی کېږي. «سورن کې یرکیګارډ، soren kierkeggard» ډنمارکی فیلسوف «۱۸۱۳-۵۵م» د لومړي ځل لپاره د وجود فلسفه رامنځته کړه او له همدې امله دی د اګزیستنسیالېزم پلار یا مبتکر ګڼل کېږي. سره له دې باید دا تصور ونشي، چې د اګزیستنسیالېزم اصطلاح به هم د «کې یرکیګارډ» له خوا وضع شوې وي... د فسلفې د قاموس «مسکو ۱۹۶۷م» په حواله د اګزیستنسیالېزم اصطلاح په ۱۹۲۹م کال د «اف. هاینمن، f.Heinemann» له خوا معرفي شوه، خو د ویلیام سهاکیان «د فلسفې د تاریخ مولف» په قول د اګزیستنسیالېزم اصطلاح د لومړي ځل لپاره «ژان وال، janwahl» وضع کړه. سره له دې که څه هم د اګزیستنسیالیستي افکارو ریښې ډېرې لرغونې دي، نه یوازې په یوناني فلسفه کې، بلکې د پښتو او دري په اشعارو کې هم لیدل کېږي. اګزیستنسیالېزم د یوه سیستماتیک فلسفي مکتب په توګه د «سورن کې یرکیګارډ» په لیکنه کې راڅرګندېږي، څرنګه چې د ده اثار په ډنمارکي ژبه لیکل شوي وو؛ نو تریوې پېړۍ پورې نړۍ د ده له افکارو څخه بې خبره وه. «مارتین هایدګر» د ده فلسفه راژوندۍ کړه او بیا یې د زیاتې روزنې لپاره خپل ممتاز شاګر «ژان پل سارتر» ته وسپارله.)
سارتر په خپل وار سره د اګزیستنسیالېزم فلسفې ته انکشاف او شهرت ورکړ. همدا لامل دی، چې اوسني څېړونکي سارتر د دغې فلسفې له خورا مخکښو څېړو څخه شمېري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اګزيستنسیالېزم په فلسفي بحثونو کې د «**وجود**» او «**ماهیت**» کلمات زیات کارول کېږي. د دې لپاره چې د دغو دوو مسئلو په بنسټیزه معنا باندې وپوهېږو، د فلسفې پانګو ته پناه وړو.

فلسفه وايي: ( کله چې تاسې وایئ «ونه موجوده ده»، آیا دوو شیزونو ته اشاره لرئ، که یوه ته؟ ایا یوشی د «ونې» په نامه دی او بل د «وجود» په نامه. آیا «وجود» او «ونه والی» په یوه شي کې جمع کېږي، یعنې یو شیز هم «ونه» او هم «موجود» کېدای شي؟

همداراز کله چې وایئ «زه موجود یم»، آیا ستاسو «زه والی» ستاسو له موجودیته جدا دی؟... دلته د «ونې» مفهوم د دغه شیز «څه والي» ته اشاره کوي او د «موجود» مفهوم د هغه هستۍ او وجود ته اشاره ده. په کلي توګه د «ونې» په څېر مفاهیم، چې د شیزونو د «څه والي» د معلوملو لپاره راځي «ماهیت» بلل کېږي... ماهیتونه هغه نومونه دي، چې موږ د بېلابېلو موجوداتو او مخلوقاتو ترمنځ د فرق او تمیز لپاره هغه کاروو او وجود د اوبو په څېر دی، چې هغه په بېلابېلو لوښو او بېلابېلو ظرفونو کې اچوو. کله چې اوبه په بېلابېلو لوښو کې اچول کېږي، په هر لوښي کې خاص شکل او خاص نوم پيدا کوي. «هستي» هم په دې نړۍ کې په بېلابېلو قالبونو کې اچول شوې او بېلابېل نومونه یې پیدا کړي دي. دا قالبونه او ظرفونه هماغه ماهیتي قالبونه دي او هر یو قالب ځانته یو ماهیت ګڼل کېږي.) «فلسفه څه ده؟- عبدالرحیم دُرانی»

که په لنډه توګه ووایو، د «وجود» مفهوم په ټولو مراتبو کې یوشان دی، د فلسفې له نظره وجود کوم ځانګړی تعریف نه لري، بلکې پر احکامو او ځانګړتیاؤ یې خبرې کېږي او «ماهیت» د یوه شي د ډېرو ژورو او زیاتو پایښت لرونکو خواصو او رابطو مجموعې ته ویل کېږي، چې د هغو پواسطه د نوموړي شي مبدا، خصلت او د انکشاف تمایل ټاکل کېږي، یا په ساده ډول، ماهیت د یوه شي او یا یوه موجود د هغو خصوصیاتو مجموعه ده، چې له نورو شیانو څخه یې ورباندې توپیر کېږي.

په دې اساس «ماهیت» او «وجود» سره تړلي دي او په حقیقت کې ماهیت د وجود څرنګوالی دی، که ووایو «دا کاغذ دی»، «زه انسان یم» یا «زه انساني ماهیت لرم»، دلته دا خبره څرګنده ده، چې موږ یوازې په دغه یوه جمله کې د یوې پاڼې کاغذ او د خپل ځان ټول مشخصات نه شو بیانولی، بلکې د کاغذ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان هغه ستر خصوصیات په پام کې نیسو، چې په ټولو کاغذونو او انسانانو کې شریک دي. دغه ډول خصوصیات د شیانو کلي او ټولیز ماهیت څرګندوي، مګر که چېرې د هر شي او هر فرد ځانګړي خصوصیات په پام کې ونیسو، کلي ماهیت په فردي ماهیت بدلېږي.

اګزیستنیسالېزم لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه، د «وجود د اصالت» پرمعنا دی، مګر د سارتر او د هغو د ملګرو له خوا یې معنا «د انسان د وجود له اصالت» سره سمون خوري. په دې اساس د «وجود» د کلمې کوم استعمال چې د اګزیستنسیالیستانو له خوا کېږي، ددغې کلمې له عادي استعمال سره توپیر لري، په ورځنیو خبرو اترو کې ونه، کاڼي، دېوالونه او نور شیان «وجود» لري، خو په اګزیستنسیالېزم کې چې له «وجود» خبره کېږي، هدف ترې د «انسان وجود» دی.

یا په بل ډول اګزیستنسیالیستان وجود د داسې هستۍ خاصیت بولي، چې خلاق، فعال، متفکر، غوره کوونکي او مسئول وي او موجود له انسان څخه پرته ټولو هغو پدیدو ته چې انفعالي هستي لري او د انسان د لاس وهنې منفعل وي او خپله معنا د انسان له بدلون څخه اخلي اطلاق کېږي. په دې توګه په اګزیستنسیالېزم کې «وجود لرل» له «شتوالي» سره یوه شانته یا مترادف نه دی.

د څېړونکو په اند، د اګزیستنسالېزم قوت او اتکا په هماغه ایډیالېزم ده، چې ارتجاعي رومانتېزم ته یې قوت ورکړی دی، د ارتجاعي رومانتېزم هنرمند عقیده لرله، چې احساسات د بهرنیو حقایقو محک دي او د ژوند واقعي مظاهرو ته یوازې هغه مهال پام کېدای شي، چې په داخلي نړۍ او د زړه په جهان کې احساس شي. اګزیستنسیالیست فیلسوف هم عقیده لري، چې زمونږ له هستۍ او وجود پرته نړۍ محسوسه او اغېزمنه نه ده او دا مونږ یو چې حقیقي نړۍ ته ساه ورکوو... یا په عالم کې د هستۍ سرچینه په خپله مونږ یو.

د «هایدګر» په نظر « د وجود د پېژندلو لپاره فقط یوه لار شته او هغه پخپله انسان دی، انسان یوه داسې کړکۍ ده، چې د وجود پرمخ پرانیستل شوې ده او د وجود پېژندنې لپاره باید د انسان د وجود ابعاد کشف کړو.»

په همدې بنسټ ټولو اګزیستنسیالیستانو «سورن کې یرکیګارډ، کارل ژاسپر، ګابریل مارسل، نیکولای بردایف، مارټین هایدګر، ژان پل سارتر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



البرټ کامو او نورو» پر انسان او د انسان پرهستۍ باندې بحث کړی دی. د دوی په اند انسان هغه رود ته ورته دی، چې په هرځای او هر وخت کې خپل ځانته په خپله لوری او بڼه ټاکي او له دې مخې په نړۍ کې هر نوښت له انسان څخه سرچینه اخلي، انسان په بشپړه ډول خپلواک دی او په بشپړه ډول د خپل ژوند او چارو مسئول دی.

څرنګه چې داګزیستېنسیالېزم اصلي محور انسان بلل کېږي، نو همدا لامل دی، چې په لوېدیځ کې ددغه فلسفي مکتب پلویانو ته «د هستۍ د فلاسفه ؤ» نوم هم ورکړل شوی دی.

ددغې فلسفې پلویان پر دوو برخو وېشل شوي دي. په لومړۍ ډله کې کاتولیکان«د مسیحي دین لویه څانګه» یا دین داران شامل دي، لکه:
(کارل ژاسپر)، (کې یر کیګارډ)، (ګابریل مارسل) او (نیکولا بردایف) او په دوهمه ډله کې هغه فیلسوفان شامل دي، چې دین ته ژمن نه دي، په دغه ډله کې (ژان پل سارتر) او (مارټین هایدګر) هم راځي.

د دوی دواړو ډلو ګډ نظریات پر انسان او د انسان د ماهیت پرموضوع باندې راڅرخي. دوی وایي: «ترڅو چې بشر کوم عملي اقدام نه وي کړی، ترصفت لاندې نه راځي، ځکه نه ښه دی او نه بد، هېڅ شی نه دی، یو خالي لوښی دی، چې وروسته د ژوند په جریان کې په ښو او بدو پېژندل کېږي، چې لوښی یې په زهرو ډکېږي او که په شاتو.»

د انسان د پیدایښت او وروسته په نړۍ کې د هغه د رول مسئله د فلسفې په تاریخ کې یو تود بحث دی. فرانسوی فیلسوف «ژان ژاک روسو» ویلي:
«انسان آزاد پیدا شوی، خو هرځای په بند او ځنځیرونو کې دی.»
«هایدګر» ویلي: «د انسان ماهیت د هغه په وجود کې دی.»
او «سارتر» وایي: «د انسان وجود تر ماهیت مخکې دي.»

سارتر د اګزیستېنسیالېزم په استازیتوب ددغې جملې تفسیر داسې کوي: (انسان په لومړي سر کې نه ماهیت لري او نه کیفیت؛ له انسان څخه یوازې هغه وخت «یوشی» جوړېږي، چې وجودي پیدایښت او ارزیابي پیل کړي او د ماهیت او کیفیت خاوند شي.) سارتر یو بل ځای د خپل دغه نظر پخلی کوي او وایي: «لومړی فرد منځته راځي او بیا هغه خپل ماهیت پخپله ټاکي او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاکنه یا انتخاب په دایمي توګه جریان لري، څرنګه چې د بشر وجود تل په تغیر او تحول کې دی او په دغه تغیر او تحول کې هر فرد لاس لري.»
د اګزیستېنسیالېزم د پېژندنې د تیورۍ موقف دا دی، چې هر یو فرد د خپلې پوهې او معرفت مسئول دی. معرفت له شخصي خبرتیا څخه سرچینه اخلي او د انسان د آګاهۍ، خبرتیا او احساساتو له محتوا څخه د تجربې د محصول په څېر ترکیب مومي. انساني موقعیتونه له عقلاني او غیرعقلاني دواړو عناصر څخه جوړېږي. د معرفت اعتبار، د هغه ارزښت او معنا د خاص وګړي لپاره ټاکي.
ددغه فلسفي مکتب پلویان په دې باور دي، چې پخپله کس باید په خپلې هستۍ او برخلیک پورې اړوندو مسایلو ته ځواب وومومي، په بله وینا هغوی په عین وخت کې د هستۍ د مسایلو لپاره چې د نورو د ځوابونو رد یې په نظر کې نیولی دی، وړاندیز کوي، چې هر وګړی باید په دغو مسایلو فکر وکړي، ترڅو لومړی په نړۍ کې د خپلې هستۍ په اصالت پوه شي او وروسته د خپلو ستونزو او مسایلو په حل برلاسي پیدا کړي. د دوی په نظر د چارو رښتنوالی مخکې له هرڅه د ځان پېژندنې او د انساني هستۍ د اصالت درک دی، په بله وینا انسان چې د ټولو شیانو مقیاس او معیار دی، باید خپل انساني وجودي حقیقت هم پر ټولو شیانو مقدم وبولي.
په دې بنسټ «سارتر» وایي: «**بشر پرته له کومې مرستې او سند څخه هر وخت او هره لحظه د بشریت په جوړولو مجبور دی.**»، سارتر د یوه فرانسوي شاعر «پونژ» دغه جمله تائیدوي، چې ویلې وه: «**بشر د بشر آینده دی!**».
سارتر څرګندوي: «بشر ته ښایي چې نوې سرحدونه پرانیزي او له پروني جهان څخه مخکې ولاړ شي.»
سارتر په دې ډول د انسان د مسئولیت او تعهد مسئلې ته ډېر تم کېږي او له ګڼو ټولنیزو نیمګړتیاؤ او ناخوالو ترڅنګ د انسان تر ټولو مهمې دندې ته ګوته نیسي، نوموړی وایي: «موږ په داسې ډول پیداشوي یو، چې سره له دې چې زیات رنځونه او ستونزې پر موږ راتپل شوې، بیا هم غواړو خپل رول په نړۍ کې په ښه ډول ادا کړو.»
سارتر انسان د خپل ځان او ټولنې د جوړولو مسئول ګڼي او وایي، دا موږ یو چې معیارونه او ارزښتونه منځته راوړو. د سارتر په اثارو کې که څه هم د طبیعت کمه یادونه کېږي او کابو ټولې لیکنې یې د ښاریانو لپاره دي، خو د ارزښتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منځته راوړلو د نظریې د ښې پوهېدنې لپاره ان د طبیعت مثال ورکوي.
سارتر وايي: « **ارزښتونه زموږ له اعمالو څخه را الوزي، هماغه ډول لکه کوم وخت چې په باغ کې قدم وهو او زموږ په راتګ سره مرغان له ونو الوزي.** »
سارتر پر انسان باندې د خبرو او نظریاتو په لړ کې په خپله یوه وینا کې اعلان کړه، چې «اګزیستنسیالېزم د هیومانیزم یا انسان پالنې یوه بڼه ده!» خو وروسته د نوموړي دغه ادعا له نیوکو سره مخ شوه. افغان لیکوال او د فلسفې استاد «اروانښاد اسد اسمايي» د خپلې لیکنې په یوه برخه کې دغه موضوع داسې بیانوي: «په اروپايي اګزیستنسیالېزم کې ژان پل سارتر د هغه نامتو نماینده دی او هیومانېزم یعنې له انسان سره مینه یې خپل ایډیال ګرځولې وه، خو د هیومانېزم اصلي مفکوره، چې کېدای شوای او باید له انسان سره په عاطفي رابطه ولاړه وي، په یوه لاینحل پراډکس تبدیله شوه. یو مثال به راوړو، د عاشق او معشوق ترمنځ رابطه د سارتر په نزد د جلاد او قرباني رابطې ته ورته ده او د هغه په نظر اصلي ګناه په داسې نړۍ کې اوسېدل دي، چې نور هم پکې اوسېږي، د نورو کسانو تحمل، رنځ او عذاب دی او بالاخره جهنم د نورو کسانو حضور او موجودیت دی. له دې جهته ویلی شو، چې د سارتر رواني او فلسفي نقطه نظر له هیومانېزم یا بشردوستۍ سره په مقابله کې واقع دی او د هغه اګزیستنسیالېزم یا هیومانېزم تبلیغاتي عنوان دی.»
«استاد اسد اسمايي» د خپلې دغې لیکنې په یوه بل پراګراف کې وايي:
«ژان پل سارتر چې له هیومانېزمه خبرې کوي، د تړلې دروازې قهرمان یې دې نتیجې ته رسېږي، چې دوزخ یعنې تاسې، جهنم یعنې د تاسو او نورو خلکو حضور، یا انسان، انسان ته دوزخ دی او هر انسان بل ته جهنم دی، چې دا طرزِفکر له هېومانېزم سره په پراډکس کې واقع دی.»
همدارا ز یو نور شمېر څېړونکي هم وايي، مخکې له دې چې «سارتر» د اګزیستنسیالېزم خبره راواخلي او هغه د هیومانېزم او بشرپالنې سره غاړه غړۍ وبولي، نوموړي په خپلو مهمو اثارو «کانګې» او «دېوال» کې د بشر د ژوندانه یو تریخ طنز وړاندې کړی دی، چې په هغو کې له هرې خوا د پوچۍ له تصور سره مخامخ دی او په جدي ډول له تاریخي او اخلاقي امیدونو سره اړیکې پرې کوي. سارتر د کانګې اثر په یوه برخه کې لیکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«... د پوچۍ کلمه مې ترقلم لاندې زېږي، لږ مخکې مې په باغ کې ونه موندله، ورپسې سترۍ هم نه وم، اړتیا مې ورته نه وه، ما د شیانو په اړه، له شیانو سره، پرته له کلمو چورت واهه. په سر کې مې پوچي وه، چې نه کوم تصور ته ورته وه او نه کوم آواز ته، بلکې د یوه مړه اوږده مار په څېر مې ترپښو لاندې کېدله... او پرته له دې چې د ویلو لپاره څه وړاندې کړم، پوهېدم چې د خپل وجود کیلۍ، د خپلو کانګو کیلۍ او د خپل ژوند کیلۍ مې موندلې ده. په رښتیا، ټول هغه څه چې کولی مې شوی، وروسته یې پیداکړم، په همدې پوچۍ پورې اړه لري. بیا هم پوچي د یوې بلې کلمې په څېر راڅرګنده شي، زه له کلماتو سره په جګړه کې یم، هغلته مې یو شی لمس کړل، مګر دلته غواړم د پوچۍ یو مطلق خصلت څرګند کړم... د یوه لیوني خبرې د هغه موقعیت په اړه پوچې دي، په کوم کې چې دی دی، مګر پخپله د هغو د لېونتوب په برخه کې پوچې نه دي...»

څېړونکي وايي، په اروپا کې د لومړۍ او دوهمې نړیوالو جګړو په بهیر کې زیاتره متفکرین له دغه ډول ضد او نقیص احساساتو او نظریاتو درلودونکي شول. چې دا هرڅه له هغو وېرو، بدګومانیو، زړه تنګیو، د کرکې او یوازیتوب له احساساتو څخه راپورته شول، چې د جګړو په ترڅ کې یې د اروپايي انسان په «لاشعور» کې رسوب وکړ.

سارتر یوازنی روښانفکره نه دی، چې تر قلم لاندې یې پوچي زوکړه کوي او د ژوند یو له تاوتریخوالي ډک تصویر وړاندې کوي، بلکې د زیاترو قلموالو او متفکرینو برخلیک همداسې دی.

«البرټ کامو» د اګزیستنسیالېزم یو بل پلوی او د سارتر ملګری ؤ، چې ژوند یې پوچ وباله، د نوموړي لیکنو د «پوچۍ د فلسفې» په نامه شهرت وموند، دده یو داستاني اثر «د سیزیف افسانه» نومېږي. په دغه اثر کې د «سیزیف» په نوم یو سړی، د خدایانو له خوا محکومېږي، چې یوه ډبره د غره سر ته وخېژوي، خو څنګه چې دی ډبره د غره سر ته رسوي، هغه بېرته رارغړي، په ده باندې همداسې ژوند تېرېږي، ډبره د غره سرته وړي، هغه بیابیا رارغړي، د هغه لپاره د ډبرې هره ذره او د غره هره پړښه یوه دنیا جوړوي، خو سیزیف خپل دغه بې حاصله کار ته دوام ورکوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسوی لیکوال «اندره مالرو» د «کامو» ددغه اثر په اړه لیکي: «خدایانو سیزیف په دې محکوم کړ، چې ډبره د تل لپاره د غره ترڅوکې وخېژوي او له هغه ځایه بېرته په خپل وزن سره بېرته راولوېږي. خدایان په دې دلایلو پوهېدل، چې له بې ګټې او نا امیده کوونکو کار څخه بل هېڅ وحشتناک عبرت نشته...»

د اګزیستنسیالېزم لاروی «البرټ کامو» غواړي د سیزف د افسانې له لارې د انسان د ژوندانه یو پوچ او غملړلی انځور وباسي، نوموړی دا پوښتنه مطرح کوي، چې انسان خپل لنډ او یونواخت ژوند په څه تېروي؟ پورته کېدل، بس ته ختل، د ورځې دری یا څلور ساعته په دفتر یا کارخانه کې کار کول، خواړه، سرویس، څلورساعته کار، استراحت، دوشنبه، سه شنبه، چهارشنبه، پنجشنبه...

په دې ترتیب «کامو» هم د سارتر په شان له متضادو احساساتو سره پاتې شوی، ده که څه هم ویلي: «ضروري نه ده، چې هرسړی دې ستر سړی وي، د انسان لپاره یوازې انسانیت بس دی.»، خو دا ټکی هم د تامل وړ دی، چې وایي: «انسان یوازنی مخلوق دی، چې په خپل خلقت باندې ناراضه دی.»

په هر حال د اګزیستنسیالیستو لیکوالو او متفکرینو په اثارو کې ډېر داسې ټکي شته، چې د استاد اسمایي په وینا د دوی له شعار سره په پراخ کس کې واقع دي. د «استاد روهي» په اند د اګزیستنسیالیستانو په ادبي او فلسفي اثارو کې «فرد او ټولنه د دوو بېګانه قوتونو په توګه له یو او بل سره مخامخ کېږي، نتیجه څرګنده ده، فرد نه شي کولی، د ټولنیز انکشاف له قانون سره د ټکر په نتیجه کې بریالیتوب ته ورسېږي. البرټ کامو د انتحار وړاندیز کوي، ژان پل سارتر او نور ملګري یې هم فرد په مخمصه او مشکلاتو کې پرېږدي او یا له هغه څخه غواړي، چې شرایط او زمانه د ځان تابع کړي. د اګزیستنسیالېزم قهرمان یا د یو نواخته او پوچ ژوند قرباني کېږي او یا دا چې د ټولنې د عیني قوانینو پرضد مبارزه کوي او په سېلاب کې مخ په پورته لامبو وهي. اګزیستنسیالسټ چې په لومړي سر کې ځان آزاد ګڼي، په پای کې له فاجعې سره مخامخ کېږي، د تنهایۍ او بېګانګۍ احساس کوي؛ ځکه چې خپل ځان یې په لوی لاس له ټولنې څخه بېګانه کړی دی، په اضطراب او اندېښنو کې ژوند کوي او د اسارت، تهوع او نا امیدۍ په لومه کې نښلي.» «ادبي څېړنې»

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اګزیستېنسیالیستېو لیکوالو او فیلسوفانو باندې دغه ډول نیوکې کمې نه دي. د داسې نیوکو او ایرادونو پیل د اګزیستېنسیالېزم له پیدایښت سره همهاله دی.

«ژان پل سارتر» هم چې هلې ځلې یې ددغه فلسفي مکتب په ټینګښت کې ترنورو روښانه دي، په خپل وخت کې له ګڼو نیوکو سره مخامخ شوی دی. نوموړی پخپله د همغو نیوکو او مخالفتونو په باب لیکي:

(ځینې وګړي نیوکه کوي، چې اګزیستېنسیالېزم خلک ګوښه ګیرۍ او ناهیلۍ ته دعوتوي، وایي، څنګه چې په دغه فلسفه کې ټولې لارې تړل شوې دي، نو داسې پایله ورڅخه ترلاسه کېږي، چې په نړۍ کې زموږ عمل او اقدام ناممکن دی... دغه ډول نیوکې په ځانګړې توګه پرموږ باندې کمونیستان کوي. له بلې خوا په موږ باندې نیوکه کېږي، چې موږ د بشر ناوړه او شرم راوړنکو حالاتو ته ګوته نیسو، هرځای له ککړتیا او کړکېچ څخه پورته کوو او د بشري ژوندانه له خوشالوونکو ښکلاؤ څخه سترګې پټوو... مسیحیان پر موږ باندې ایراد نیسي او وایي، چې موږ د بشر له واقعیت او د هغو د اقداماتو له جدیت څخه انکار کوو؛ ځکه هغه محال چې موږ له ازلي ارزښتونو منکر شو، نو له «عبث والي» څخه پرته بل هېڅ شی هم نه پاتې کېږي، یعنې هر څوک چې څه وغواړي، ویې کړي، نو بل څوک حق نه لري، له خپل لیدلوري څخه د نورو خلکو اعمال او باورنه محکوم کړي...خو تر ټولو مهم ایراد چې موږ ته متوجه شوی، دا دی چې زموږ ټوله پاملرنه د بشر د ژوندانه له شري او تیارو اړخونو سره بوخته ده. څو ورځې مخکې ما ته یو چا وویل، یوې ښځې چېرته د قهر په وخت کې ناسمې خبرې کړې وې، خو د ښښنې د غوښتلو پر وخت یې ویلي وو: هسې نه چې اګزیستېنسیالیسته شوې یم!...)

ژان پل سارتر ددغه شان نیوکو په اړه په خپلو ګڼو ویناؤ او لیکنو کې ځینې ځوابونه ویلي دي، نوموړی د اګزیستېنسیالېزم د معرفۍ او د بېلابېلو ایرادونو او مخالفتونو په ځواب کې لیکي:

( اګزیستېنسیالېزم له هغې فلسفې څخه عبارت دی، چې د بشر ژوند ممکنوي او له بل لوري دا هم وایي، چې هر عمل او هرحقیقت د انسان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفس محصول دي. زموږ فلسفه ترټولو فلسفو لږ جنجالي، مګر ترټولو جدي او سخت ګیره ده، دا فلسفه د فن لرونکو او فیلسوفانو لپاره ده، مګر بیا یې هم پېژندنه آسانه ده...

اګزیستنسیالېزم د جهان د هغو اړخونو عکاسي کوي، چې نامطلوبې، ناوړه او تاواني وي؛ په دې اساس لومړی باید د موضوعاتو منفي، تاواني او ناوړه خواوې څرګندې شي، وروسته هغو ته تغیر ورکړل شي، د یوه متفکر او لیکوال دنده دا ده، چې د موضوعاتو غلطۍ او بدۍ څرګندې کړي... اګزیستنسیالېزم یوه عمل پلوه هڅه ده. زموږ فلسفه وایي، هر سست عنصره شخص، خپل ځان په خپله سست عنصره کړی دی او هر قهرمان شخص، پخپله له خپل ځانه قهرمان جوړ کړی دی. د سست عنصره شخص لپاره تل دا امکان شته، چې نور سست عنصره ونه ووسېږي. همداسې د قهرمان شخص لپاره هم دا امکان شته، چې له قهرمانۍ څخه لاس ووینځي. هغه څه چې حساب ورباندې کېږي، یوازې د انسان عمل او مسئولیت دی، چې د هغه شخصیت ټاکي. په دې توګه اګزیستنسالیزم یوه خوشبینه، پرعمل باندې ولاړه او عمل ته هڅونکې فلسفه ده. څرنګه چې وینئ، نه شو کولی دغه فلسفه پر ګوښه ګیرۍ، بې مسئولیتۍ او پر یوازیتوب غوښتلو باندې متکي فلسفه وبولو. ځکه په دغه فلسفه کې انسان د هغه د عمل له مخې سنجول کېږي او باور لري، چې بشر د خپل برخلیک ټاکونکی او جوړونکی دی. له همدې امله د اګزیستنسالېزم فلسفه له کوشش او عمل څخه د انسان راګرځونکې نه ده، ځکه په زغرده اعلانوو، چې یوازنی شی چې بشر ته د ژوند کولو امکان ورښیي، هغه عمل دی...

اګزیستنسیالېزم یوازني فلسفه ده، چې بشر ته ورتیا او شایستګي ورښيي. یوازنۍ فلسفه ده، چې بشر ته د کوم بل مادي شي په توګه نه ګوري. تاسې وینئ هر ماتریالیسټ «چې وایي ټوله نړۍ مادي ده او همدا ماده ده چې اروا یې زیږولې ده» ټولو بشري افرادو او حتی خپل ځان ته د کاڼي، لرګي او نورو شیانو په شان خطاب کوي، خو موږ غواړو د انسان ماهیت او ارزښت د نړۍ له نورو مادي شیانو څخه رابېل کړو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناهیلۍ په اړه باید ووایو، چې دغه اصطلاح یوه خورا ساده معنا لري، په اګزیستنسیالیزم کې موږ یوازې په هغه څه باندې تکیه کوو، چې زموږ له ارادې سره اړه لري او د هغو احتمالاتو په مجموعې باندې تکیه کوو، چې زموږ عمل ممکنوي. کله چې یو انسان څه شی غواړي، نو تل له یوشمېر احتمالي عواملو سره مخامخ دی.
د ساري په ډول زه خپل یوه دوست ته سترګې په لاره یم. دغه دوست مې یا په موټر کې راځي او یا په اورګاډي کې. دلته زما هیله او امیدواري زما د دوست د رارسېدلو په ټکي ولاړه ده، چې ګواکې پرته له کومې حادثې څخه به موټر یا اورګاډی راورسېږي او زما دوست به ترې رابښکته شي. زه دلته د امکانونو په دایره کې قرار لرم، مګر ترهغه ځایه کولی شم، دغه امکانونو ته هیله من ووسم، چې په دقیق ډول زما د عمل په احاطه کې راشي. خو که چېرې په بشپړ ډول زما د عمل له احاطې څخه ووځي، باید له هغو څخه خپله هیله او امید پرې کړم، ځکه هېڅوک نه شي کولی، نړۍ او د نړۍ امکانونه زما له ارادې سره برابر کړي...
اګزیستنسیالېزم له ګوښه ګیرۍ او راحت طلبۍ سره مخالفت لري. سستي او ګوښه ګیري د هغو کسانو لاره ده، چې وایي: هغه څه چې زه یې نه شم ترسره کولی، نور خلک کولی شي ترسره یې کړي. اګزیستنسیالېزم ددغه ډول فکر په مقابل کې پاڅون کوي، ځکه باور لري، چې واقعیت له عمل څخه پرته نه رامنځته کېږي، حتی تردې هم مخکې ګام اخلي او وایي: بشر له خپلې طرحې څخه پرته بل هېڅ شی هم نه دی، بشر چې کله خپلو طرحو ته تحقق وروښښي، هېڅ شی دی او په دې ډول بشر له خپل ژوند او د خپل ژوند د اعمالو له مجموعې پرته بل هېڅ شی نه دی...
د اګزیستنسیالېزم لومړنۍ هڅه دا ده، چې انساني افراد د هغه اختیار ، مسئولیت او څښتنوالي ته وادار کړي، چې په ختّه کې لري یې . په دې ډول موږ چې کله وایو، بشر د خپل وجود مسئول دی، منظور مو دا نه دی، چې ووایو انسان د خپل ځانګړي فردیت مسئول دی، بلکې وایو، هر فرد د بشریت د ټولو افرادو پر وړاندې مسئول دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هېڅکله د یوه هنري اثر د عبث والي په اړه خبرې نه کوو، کله چې موږ د «پیکاسو» له کومې یوې هنري تابلو څخه خبرې کوو، هېڅکله دا ادعا نه کوو، چې هنرمند کوم عبث او بې ځایه کار کړی دی؛ موږ په ډېره ښه توګه دغه ټکی ته اشاره کوو، چې پیکاسو یې خپله تابلو داسې انځور کړې، چې د انځورونې پرمهال پخپله دده روحیه همدغسې وه، لکه همدغه تابلو. موږ د اخلاقو په باب هم داسې نظر لرو، د هنر او اخلاقو ترمنځ شریک ټکی دا دی، چې په دغه دواړو مواردو کې موږ له ابداع او جوړونې سره سروکار لرو... ځینې وایي، چې موږ باید پښې له خپل څرې څخه اوږدې نه کړو، هر کار چې د پخوانیو زړو رواجونو له دایرې څخه بهر وي، هسې خیال پلو دی...

تجربو ښودلې انسان همېشه د بدمرغۍ او پستۍ په لوري زور کوي... څوک چې دغه ډول منفي او غموونکې کلمې په ژبه راوړي، دا هغه خلک دي، چې هغوی «بشر یعنې همداسې» مفکورې ته ترجیح ورکوي. په حقیقت کې همدغه ډول خلک دي، چې اګزیستېنسیالېزم ته یې د یوې تورې او غموونکې مفکورې نوم ورکړی دی. اګزیستېنسالېزم په زغرده اعلانوي، چې بشر یعنې تشویش او اضطراب. ددغې جملې مفهوم دا دی، کله چې بشر خپل ځان مسئول او ملتزم وباله، هغه بیا د یوې ځانګړې اندېښنې په لړ کې پوهېږي، چې بشر نه یوازې هغه دی، چې خپل موجودیت او د ژوند لار غوره کوي، بلکې تر دې وړاندې داسې قانون او روش غوره کوونکي هم دی، چې په خپل انتخاب سره د بشري ټولنې لوری ټاکي...)

❖❖❖

د اګزیستېنسیالېزم نهضت که څه هم په فلسفه پورې اړه لري، خو پر ادبیاتو یې هم زیات اغېز شیندلی دی. په ادبیاتو کې د اګزیستېنسیالیستي افکارو راوړنه او انځورونه تر بل هرهېواد نه زیاته په فرانسه کې وشوه. ژان پل سارتر خپل ګڼ افکار د ادبي اثارو په چوکاټ کې څرګند کړل او البرټ کامو هم خپله فلسفه د ادبیاتو په ژبه بیان کړه، له همدې امله ځینې پوهان وایي:

« د فرانسې اګزیستېنسیالېزم د پنځول شوي پرځای، زیات اقتباس شوی دی او د فلسفې په تاریخ کې چندان ځای نه لري.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په فرانسه کې د اګزیستېنسیالېزم جالب ټکی دا دی، چې ادبیاتو ته یې یوه نوې ځېره وبښله او تر ټولو مهم دا چې دغه نهضت وکولی شول، هغه فاصله چې د ادبیاتو او فلسفې ترمنځ وه،له منځه یوسي.همدالامل ؤ،چې اګزیستېنسیالیستې لیکوال لکه ژان پل سارتر، البرټ کامو، سیمون دوبوار او نورو په خپل وخت کې له ستر ادبي شهرت څخه برخمن شول. سارتر او کامو خو د ادبیاتو په برخه کې د نوبل جایزې د ګټونکو په ډله کې راغلل.

څېړونکي وايي: په اګزیستېنسیالیستي ادبیاتو کې انسان د ابدي موجود او د ماورالطبعه وجود په شان ځلېږي، چې د زمان او مکان او د اجتماعي چاپېریال له اغېزو څخه وتلی وي. د انسان کړاوونه له مادي محرومیتونو، اجتماعي فشارونو او فکري اختناقونو څخه پیدا نه، بلکې دده د خپل تن او وجود مولود دي. د اګزیستېنسیالیستي ادبیاتو بله خاصه دا ده، چې په هغو کې همېشه د ژوند په ډګر باندې د مرګ سیوری خپور وي، ددغه مکتب لیکوال نشي کولی، چې په ژوند کې یو ژور مفهوم ومومي او د انسان خلاقه کوششونه د مرګ نه د ډار د کمولو موجب وګڼي. د مرګ تجلیل او لمانځنه، هغه د ژوند د تقدیر ټاکونکي په حیث ګڼي او له دې امله هغه ډار ته صوفیانه او رومانتیک رنګ ورکوي، چې له مرګه یې لري، دا ځکه چې هغه مهال جهاني جګړو لوېدیځ لړزولی او ځورولی ؤ، نو په دې اساس یې ددغه مکتب پیروان له مرګ سره دغه ډول رابطې ته رابللي وو.

د اګزیستېنسیالیستو لیکوالو په اثارو کې د انساني ژوند ګڼ ناسم اړخونه تصویرېږي او حتیٰ تردې چې ځینو لیکوالو یې ټول ژوند یو پوچ او بې معنا کشمکش بللی او انسان ته یې پکې د یوه خپلواک، خو وارخطا او اندېښمن موجود خطاب کړی دی.

د دوی په اند، په نړۍ کې آزادي او خپلواکي یو وجداني شی ده، نو د وجدانونو تعداد نړۍ منحوسه کړې او ددې سبب کېږي، چې زه همېشه په اضطراب کې یم، عشق او همکاري مې په ناامیدۍ اوړي، نو له دې امله «خپله کېدل او نور کېدل» چې د ژوند ضروري او ارضي خاصیت دی، د دایمي وارخطایۍ سبب کېږي.

د اګزیستېنسیالیستو لیکوالو په منځ کې «سارتر» هغه څوک ؤ، چې له خپلو فلسفي او فکري تمایلاتو ترڅنګ یې په ادبیاتو کې د تعهد، التزام او د ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئول بللو پلوي توب کاوه، خو دده دغه مفکورې د یوشمېر ادیبانو له نیوکو سره مخ شوې، له دې امله سارتر په ۱۹۴۵م کال د «نوي عصر» په نوم د یوې میاشتنۍ بنسټ کېښود. ده د دریو کلونو په اوږدو کې دغې میاشتنۍ ته د ادبیاتو د تعهد او ماهیت په اړه مقالې ولیکلې، چې وروسته د «ادبیات څه شي دي؟» په کتاب کې راټولې او چاپ شوې.

په دغه کتاب کې د ادبیاتو په اړه یو تیوریک بحث شوی دی. د سارتر ددغه اثر له محتوا او نظریاتي اړخ سره ځینې لوستونکي ډېر موافق نه دي، خو په هغه کې د سارتر د افکارو ژورتیا، د معلوماتو پراختیا او د سبک ښکلا د ټولو له خوا د منلو او ستایلو وړ دي.

سارتر ددغه کتاب او نورو لیکنو له لارې، ترهرڅا زیات د لیکوال د مسئولیت، رسالت او ژمنتوب په باب خبرې کړې دي، د ښاغلي اکبر کرګر په اند: «نوموړی له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته په روښانفکره ټولنو کې د ادبي تعهد او مسئولیت مسئله وغځوله او ددې لپاره چې هغه ته فلسفي بستر ورکړي، نو د ادبیات څه شی دي؟ اثر یې ولیکه، نوموړي په خپل اثر کې آزادي، عمل او مسئولیت سره موازي او برابر بولي، د هغه په نظر لیکوال څرنګه عمل کوي؟ هغه ځواب وایي، چې د لیکلو له لارې عمل کوي... او نړۍ او چاپېریال بدلوي.»

سارتر لیکي: «په وړې نړۍ کې د ادبیاتو مفهوم څه شی دی؟ ښایي ووایو چې ادبیات د اخلاقو په څېر کلیت او ټولیز کېدو ته اړتیا لري، که لیکوال غواړي لوستونکي یې ډېر وي، ښایي د خلکو په کتار کې ودرېږي، یعنې د دوو میلیاردو وږیو خلکو په کتار کې، که نه د یوې ځانګړې او ممتازې طبقې په خدمت کې به وي او له همدې ممتازې طبقې سره به په زېښناک کې شریک وي.» «د وربښموتول، عبدالغفورلېوال»

د سارتر او په مجموع کې د ټولو اګزیستېنسیالیستو لیکوالو سبک او ادبي تګلارې که د نړۍ په سطحه سل په سلو کې پلویان نه دي پیدا کړي، لږ ترلږه په بېلابېلو هېوادونو، ژبو او فرهنګونو کې یې ځینې ادیبان او روښانفکران اغېزمن کړي دي. حتیٰ که چېرې موږ د افغانستان معاصر ادب ته نظر واچوو، داسې ادیبان او روښانفکران لرو، چې د سارتر او نورو اګزیستېنسیالیستو لیکوالو له اثارو او افکارو سره اشنا وو او لږاو ډېر یې ترې اغېز موندلی دی. د ساري په توګه زموږ په هېواد کې پوهاندډاکتربهاوالدین مجروح هغه څوک ؤ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په فلسفه پوهېده، رواني او فلسفي اثار یې لیکلي او د خپل شهکار اثر «**ځانځاني ښامار**» پیل یې د سارتر له یوې کیسې او یوې جملې څخه کړی دی. د پوهاند مجروح د دغه اثر پیل داسې دی:

«داسې وايي
چېرته لرې یو لوی ښار ؤ
په دې ښار کې اوسېده یو لوی سړی هم
د ولس په هوښیارانو کې هوښیار ؤ
سوچ وهل، فکر کول یې کسب او کار ؤ
د جهان او ژوند رمزونه لټول ده
په دفترو، په اوراقو، کتابو کې
یوه ورځ د ورځ یې دا شانته بیان کړو:
تر کوم وخته چې دا ځمکه دا اسمان وي
تل د هر انسان دوزخ به بل انسان وي»

په پورته کرښو کې له «لوی سړي» څخه د پوهاند مجروح موخه «ژان پل سارتر» دی او یوه ورځ یې چې کوم بیا ن کړی، هغه هم د سارتر وینا ده. د پښتو ادب د تکړه شاعر او څېړونکي عبدالغفورلېوال په اند: (مجروح غواړي، خپل تیزس او فلسفي وړاندیز د اګزیستنسیالېزم د نامتو استازي فرانسوي ژان پل سارتر د مشهورې مقولې«تل یو انسان د بل انسان دوزخ دی» په وړاندې ودروي. مجروح ټینګار کوي، چې د انسان لپاره د هغه خپل نفس دوزخ دی، له دې ځایه وروسته شاعر د خپل وړاندې شوی تیزس د زبات لپاره د افسانې په چوکاټ کې د ننه د انسان اروايي منځ ته ننوځي. نفس د یوه ښامار په توګه تمثیلوي او دا ښیي، چې دغه ښامار څنګه د شعور او یا تحت الشعور په ساحه کې منځته راځي، وده کوي او دومره پرمخ ځي، چې په خپله د شعور څښښتن «انساني اروا» په ښامار بدلوي.) «د ورېښمو تول، لېوال»

موږ که د پښتو ادب په زیږه لمن کې په کوم بل فلسفي لیکوال یا شاعر پسې سترګې اړوو، نو تر ټولو لومړی مو «**غني خان**» تر سترګو کېږي. د پښتو ادب څېړونکو غني خان په بنسټیز ډول د فکر شاعر بللی دی او هغه هم د فلسفي فکر. غني خان خپله فلسفه د شعر په چوکاټ کې وړاندې کړې ده. دده د فلسفې مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د اګزیستنسیالېزم غوندې «انسان» دی او په انسان کې د انساني ژوند او مرګ فلسفه.
غني خان هم پرخپلو اسلامي او پښتني ارزښتونو پوهېده او هم پر اګزیستنسیالېزم. همدا لامل دی، چې دده شعر که هرڅومره اګزیستنسیالېزم ته نږدې هم شي، بیاهم د خپلې ټولنې رنګ او بوی نه بایلي.
موږ ددغه نامتو فلسفي شاعر«غني خان» ځینې شعرونه او خبرې د اګزیستنسیالېزم د نوموتي استازي «ژان پل سارتر» له ځینو افکارو او خبرو سره د موضوع د نږدېوالي له مخې راوړو:
**سارتر وایي:**
«انسان د انتخاب حق لري او کولی شي، له امکاناتو څخه په استفادې سره خپل ځان له خپلو هدفونو او ارمانونو سره عیار کړي.»
«یوازې زه یم، چې د یوه شي ښه والی او بدوالی څرګندوم.»
«د بشر جوړونکی په خپله بشر دی.»
**غني وایي:**
«او ما ځان له ساز کړ پخپله جوړ
د خپل خوب نه، د خیال نه
د خپل غم نه، د مستۍ نه
د خپل تول نه، د خپل تال نه
او ما ځان له یار کړ پخپله جوړ
د خپل سوز نه، د ارمان نه
د خوبونو نه، د رنګونو نه
د ګلونو نه، د خزان نه
او ما ځان له، غم کړ پخپله جوړ
د خندا نه، د خوشالۍ نه
د وصال نه، د خمار نه...
او ما ځان له، ژوند کړ پخپله جوړ
د امید نه، د رڼا نه
د تیارو نه، د ښېرو نه
د غمو نه، د سودا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ما ځان له مرګ کړ، پخپله جوړ
د ژوندون نه، د مستۍ نه
د سپرلي نه، د ژړو ګلونو نه
د لالونو نه، د ځوانۍ نه»

**سارتر وايي:**

«هستي او نېستي د يو او بل په مقابل کې دوې مترادفې خبرې دي او په ښکاره يو له بل سره مخالفې دي؛ خو داسې نه ده، ځکه نيستي او نشتوالی د هستۍ او شتوالي په وجود کې ده، که چېرې هستي نه وای، نېستي به هم منځته نه وای راغلې.»

**غني وايي:**

«مرګ او زندګي يوه ده، غم او خوشالي يوه
ژوند چې چېرته نه وي، مرګی چا هلته ليدلی»

**سارتر وايي:**

«انسان په دې نړۍ کې تنها او لاچاره دی، بېګانه او اجنبي دی، خو که چېرې خپل حالت ته انديښمن او مضطرب شي، نو د لاچارۍ او بېګانګۍ احساس يې نور هم زياتېږي.»

**غني وايي:**

«وروره دی دا جهان، يومکان دفنا
ورته مه کړه ژړا، ورته مه کړه ژړا
دی يو خوب دا ژوندون، دا ځواني يوه نشا
ولې ځې په ژړا، ولې ځې په ژړا»

**سارتر وايي:**

«دوزخ يعنې تاسې
جهنم يعنې د تاسو او يا نورو خلکو حضور
يا انسان، انسان ته دوزخ دی
او هر انسان ته بل انسان جهنم دی»

**غني وايي:**

«دې ګوګل کې مې د ننه
هم دوزخ دی، هم جنت...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ګوګل کې مې د ننه
هم دنيا ده، هم عقبا
دا هم لاره، هم کاروان دی
هم تدبير دی، هم قسمت
پروت په دې کې ټول داستان دی
د جزا او د سزا»

**سارتر وايي:**

«ليکوال او شاعر دواړه له ژبې سره، سروکار لري، خو د دواړو چلند بېل دی... داسمه ده، چې نثر ليکونکی يې هم ليکي او شاعر يې هم ليکي؛ خو د دواړو ډولونو د ليکلو ترمنځ توپير موجود دی. ګڼه وجه يې يوازې د لاس خوځښت دی، چې کلمات پرې ليکي، پردې سربېره، دده نړۍ او د هغه بل سره جلا دي. هغه څه چې د يوه چا لپاره رښتوني دي، د بل لپاره نه دي...»

**غني وايي:**

«زما خيال دی، چې په ژوند کې د يوه شاعر مرام او هدف له يوه مبلغ او ملا څخه بيخي جلا او بل شان دی... يو شاعر بايد د فکر او خيال، قول او عمل په ډګر کې د ښکلا او ښايست عبادت وکړي او انسان دې ته مجبور کړي، چې هغه دخپلو خواهشاتو له ګندګيو څخه خپل مخ د خپل باغي عدن خواته واړوي. دا کار په پند او نصيحت نه شي کېدای، زما هغه خلک بد ايسي، چې ماته نصيحتونه کوي.»

**سارتر وايي:**

«د شعر حکم يو ډول لوبه ده، چې هرچا بايلوه، نو ګټونکی يې شو، اصيل شاعر هغه دی، چې ددې لپاره چې وړونکی شي، ماتې که د مرګ په بيه هم وي مني يې... موږ انسان ته په تراژديک ليد ګورو، تراژديک ليد او شاعرانه ليد سره يو شی دی.»

**غني وايي:**

«ترکومه چې په ژوند کې د عذاب او مصيبت، درد او غم تعلق دی، نو زما خيال دی، د ښکلا د تخليق لپاره د هغې قسمت ادا کول لازم دي، هريو شاعر او فن کار د بوږنوونکی قسمت ادا کوي او په دوی کې يو څو کسان خوشبخته وي، چې د ښکلا او دلربايۍ يو څاڅکی راپيداکړي. د هنر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا او دلربايۍ د منځته راوستو لپاره، ته بايد چې د ژوند درد و غم ته ورمخامخ شې.»

**سارتر وايي:**

«د شاعر هدف دا نه دی، چې ماتې او شکست نړيوال مسير ته داخل کړي، حقيقت دا دی، چې د هغه سترګې يوازې ماتې او تباهي ويني، شاعر يوازې د ماتې سندره نه وايي، بلکې د ماتې په ليدو سره له هغه تېرېږي او په بل اړخ کې د انسان له ماتې خوړونکي ذات سره مخامخ کېږي او پخپله يوه شېبه کې د انسان د ژوندانه يوه شېبه احساسوي.»

**غني وايي:**

«شاعر د خپل ماحول غلام وي، دده مثال د يوه داسې حيوان دی، چې د هغو پر وجود خرمن نه وي؛ که هسې لږ د اغزي څوکه وروړې، نو په کړيکو ځان وژني او که هسې لږ آرام ورشي، نو د خوشالۍ نه بې هوشه کېږي.»

د پښتو ادب په معاصرو فلسفي شاعرانو کې يو بل وتلی شاعر «هاشم بابر» دی. هاشم بابر د پښتو نوې شاعرۍ په نړۍ کې د ځانګړي سبک او اسلوب خاوند دی، دده په ټوله شاعرۍ باندې د غني خان غوندې د فلسفې رنګ راخپور دی. څېړونکو هاشم بابر ته په پښتو ادب کې د وجودي فلسفې يا اګزيستېنسياليزم د استازي خطاب کړی دی. نامتوشاعر«غني خان» د هاشم بابر په يوې شعري ټولګې«سيوري» باندې سريزه کښلې، غني خان ددغې سريزې په يوه برخه کې ويلي: «که په يورپ کې سارتر ددې فلسفې پيغمبر دی، نو په پښتنو کې يې هاشم بابر خليفه دی.»، په خپله هاشم بابر د غني خان ددغې وينا په هکله ويلي: «د سارتر فلسفه او ادبي ليکونه، ما د غني خان ددې ليک نه پس لوستي دي. کېدی شي، چې خپلې زمانې موږ دواړه هم په يوه غم اخته کړي يو.»

هاشم بابر د خپل ځان او خپل شعر په اړه ويلي:

«زه له فناه نه ډېر وېرېږم او زما په شاعرۍ کې د فناه وېره ډېره غالبه ده.»

د بابر دا خبره د اګزيستېنسياليزم د يوه بل استازي «البرټ کامو» له دغې وينا سره اړخ لګوي، چې وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



«د انسان عظمت په دې کې دی، چې پوهېږي مړ به شي.»

او «سارتر» وايي:

«له مرګ او لوږې څخه په دايمي توګه د خطر احساس، انسان ته د ژوند حق او معنا ورپېژني.»

هاشم بابر له خپل پيدا ايښت څخه د راپيدا شويو وېرو تصوير د خپل شعر په څو کرښو کې داسې راوړي:

«دا وېرې ترهې چې په موږ اوسېږي
دغه جوړ ځکه چې بې ځايه يو
نه مېلمانه يو نه پرااو لرو
پښې په ګړنګونو ږدو
ددې ګنګوسو نه به خلاص څنګه شو
څنګه به بچ شو»

او بل ځای وايي:

«نه لاس وهلی شم، نه پښې، لوخړو نغښتي يمه
مرګی په ژوند وينم، نصيب داسې راوستی يمه»

سارتر وايي:

«انسان د خپل وجود په جال کې نښتی دی او په بيخي بې مطلبه دنيا کې اوسي، خو له دې سره سره له خپل وجود څخه تېښته نه شي کولی.»

خو هاشم بابر له سارتر څخه په دغه ځای کې لاره بېلوي:

«يولوی جهان راکې بې تابه اوسي
خدايه! څه دې له معامله خو وکړه»


او يا:

«زه هاشم په ځان کې شته هسې اوسېږم
چې زخمونه مې يې سره دي له رخساره»

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ د بې عدالتۍ سیمه ده
که چیرې یې مني
په جرم کې ورسره
شریکیږي او که چیرې
غواړي بدله یې کړي
په جلاد باندې بدلیږي.
(سارتر)





نه غواړم ته تاته ووایم
چې څومره مینه درسره لرم
مینه داسې شی نه ده
چې په ویلو څرگنده شي
(سارتر)

وګړي د خپلو کمبودیو په اندازه
نور وګړي آزاروي...
(سارتر)



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سارتر لنډې ویناوې

کله چې یوازې شو
د ملګري په لټون کې وو
کله چې ملګری پیدا کړو
بیا یې د عیبونو په لټون کې وو
او کله چې یې له لاسه ورکړو
بیا یې په خاطرو او یادونو پسې سترګې وو.
«سارتر»

★ ★ ★

یو انسان د نورو انسانانو ثمره ده او په همغه اندازه ارزښت لري، لکه نور انسانان چې یې لري. «سارتر»

★ ★ ★

شله ګي چې تر آزاره ونه رسېږي، «پارونه او پوهونه» ده، خو که چېرې د آزار تر بریده ورسېږده، «شکنجه» ده. «سارتر»

★ ★ ★

زه له هغو قربانیانو څخه نفرت کوم، چې خپلو محکومونکو ته احترام لري. «سارتر»

★ ★ ★

له ټولو سره مې وفا وکړه او له هېچا څخه مې د وفا تمه ونه کړه، په دې ډول ډېر آرام وم. «سارتر»

★ ★ ★

نړۍ د بې عدالتۍ سیمه ده، که چېرې یې منې، په جرم کې ورسره شریکېږې او که چېرې غواړې بدله یې کړې، په جلاد باندې بدلېږې.
«سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ایمان چې یوازې په یوه وسوسه او یوه زمزمه ضعیف شي، ایمان نه، بلکې یو خیال او سراب دی. «سارتر»

★ ★ ★

زموږ خوی، چلند او کړه وړه، زموږ په فکر پورې اړه لري، هېڅوک نه شي کولی، په موږ کې د موږ د فکر خلاف چلند، خوی او کړه وړه رامنځته کړي. «سارتر»

★ ★ ★

سیاست یعنې ځان لوړ ګڼل او نور خلک خپل دغه باور ته وادارول.

«سارتر»

★ ★ ★

کله چې موږ وایو، چې بشر په خپل انتخاب کې آزاد دی، منظور مو دا دی، چې له موږ څخه هر یو، هر هغه څه چې غواړو یې، په آزادانه ډول یې انتخابولی شو. «سارتر»

★ ★ ★

خبره دا نه ده، چې یو شی له منځه ځي، کوم څه چې له منځه ځي، د هغو یاد هم له منځه ځي. «سارتر»

★ ★ ★

ښایي تر ټولو لویه ستونزه دا وي، چې ژوند لکه څنګه چې موږ پېژانده، هغه پای ته رسېدلی دی، خو تر اوسه داسې څوک نشته، چې وپوهېږي، چې څه شي یې ځای نیولی دی. «سارتر»

★ ★ ★

زه هغه وخت آزاد یم، چې د نړۍ ټول وګړي آزاد وي، ترڅو چې په نړۍ کې یو کس هم اسیر وي، آزادي بې معنا ده. «سارتر»

★ ★ ★

هغه څه چې بشر ته د ژوند کولو امکان وربښي، عمل دی. «سارتر»

★ ★ ★

ادبیات ښایي ونه شي کولی، د جنګ او وینو تویولو مخه ونیسي، ښایي یو ماشوم هم له مرګه ونه شي ژغورلی، مګر داسې څه کولی شي، چې نړۍ وربانديې فکر وکړي. «سارتر»

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ ★ ★

**انسان د خپل ځان په ساتلو او پاللو باندې مجبور دی. «سارتر»**

★ ★ ★

**ترڅو چې په بشپړه ډول ډاډمن نه شم، هیله او امید له لاسه نه ورکوم.**
«سارتر»

★ ★ ★

**هغه څه چې له سړي څخه یو سست عنصره انسان جوړوي، له عمل څخه تېښته او تسلیمېدل دي. «سارتر»**

★ ★ ★

**بشر ترهغه وخته پورې بې ارزښته دی، ترڅو چې یې خپلو طرحو او فکرونو ته واقعیت نه وي ورکړی. «سارتر»**

★ ★ ★

**انسان یو تېری کوونکی ژوی دی او د هرشي چې علاقه من شي، په هغو باندې یرغل کوي، د انسان زړه د یرغل او تجاوز ټاټوبی دی او هره علاقه او سلیقه یې له یرغلیز خوی څخه پیروي کوي. «سارتر»**

★ ★ ★

**که چېرې نه شې کولی، له پسرلي څخه خوند واخلې، دا په دې دلیل نه کېږي، چې نور خلک دې هم ترې خوند وانه خلي. «سارتر»**

★ ★ ★

**کله چې هیله او امید مري، کله چې د هیلې او امید کوچینی امکان هم له لاسه ورکوو، نو د هیلو او امیدونو څخه تشته فضاه په خیالونو، ماشومانه فکرونو او له حقیقته په لیرې کیسو باندې ډکوو او دا ټول د خپل ژوند د دوام لپاره. «سارتر»**

★ ★ ★

**هېڅکله په هغه لار مه ځه، چې پای یې درته څرګند نه وي. «سارتر»**

★ ★ ★

**که چېرې تفاهم او پوهاوی نه وي، دوستي منځته راتله، خو مینه او محبت نه. «سارتر»**

★ ★ ★

**هر هنري اثر، یو ناواقعي امر دي. «سارتر»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ ★ ★

کله چې د انسان کومه اړتیا رفع شي، بیا نو داسې فکر کوي، لکه هغه اړتیا چې نور هېڅ مفهوم نه لري. «سارتر»

★ ★ ★

د ژوند د جګړې پر وړاندې، ماشومان او سپین ږیري په یوه لیکه کې ولاړ وي. «سارتر»

★ ★ ★

انسان هغه مهال له خپله ځانه د رضایت احساس کوي، چې کله کوم ښه کار ترسره کوي. «سارتر»

★ ★ ★

په خوب او خوراک کې اندازه او اعتدال په پام کې نیول، له ژوند څخه د خوند اخیستلو بنسټ جوړوي. «سارتر»

★ ★ ★

ټول ښکلي او منلي شیان چې وینې یې، ذهن ته یې وسپاره، ترڅو د تل لپاره له تاسو سره پاتې شي؛ دا ځکه کوم وخت چې دغه شیان نه وي او یا نشته شي، ته به یې وینې او له تا څخه به نه وي ورک شوي. «سارتر»

★ ★ ★

موږ تل باید اخلاق جوړ کړو او ارزښتونه وپنځوو. «سارتر»

★ ★ ★

ټول وایي، هیله، هوس او ارمان د ځوانانو لپاره ګناه نه ده، خو زه وایم، چې ان د زړو او سپینږیرو لپاره هم نه ده. «سارتر»

★ ★ ★

هېڅ داسې دقت نشته، چې ګټه او بریا دې ونه لري. «سارتر»

★ ★ ★

انسان په دغې نړۍ کې یوه نابلل شوي مېلمه ته ورته دی، چې عدم او نیستي یې ترڅنګ قدم وهي او د برخلیک او سرنوشت سیورې یې هره شېبه پر سر تاوېږي. موږ یوازې د خپل ژوند، بقا او شته والي پیروي کوو او نوره نړۍ راته بې مفهومه ښکاري. «سارتر»

★ ★ ★

بشر د ارزښتونو منځته راوړونکی دی. «سارتر»

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ ★ ★

تاریخ کوم خود کاره او بې موټروانه ماشین نه دی، تاریخ په یوازې سر استقلال نه لري، بلکې تاریخ همغه شی دی او همغه شی کېږي، لکه موږ یې چې غواړو. «سارتر»

★ ★ ★

رقابت پر خپل ځای او رفاقت پر خپل؛ دا دواړه یو د بل مانع نه دي. «سارتر»

★ ★ ★

له اسمانه ځمکې ته را اوربدل، عجیبه نه دي، له ځمکې څخه اسمان ته اوربدل عجیبه دي. «سارتر»

★ ★ ★

نیکي زموږ د زړه په ژورو کې او حقیقت زموږ د ادراکو په مبهمو زاویو کې ځای لري. «سارتر»

★ ★ ★

له مرګ او لوږې څخه په دایمي توګه د خطر احساس، انسان ته د ژوند حق او معنا ور پېژني. «سارتر»

★ ★ ★

هر څومره چې ژوند سختېږي، هغومره اسانه کېږي هم. «سارتر»

★ ★ ★

خلک له هر شي څخه خبرې کوي، په ځانګړې توګه له هغه شي څخه زیاتې خبرې کوي، چې نه وربادې پوهېږي. «سارتر»

★ ★ ★

آیا هغه څوک چې اطاعت او ګوښه ګیري د پرمختګ لامل بولي او په ژوند کې د هېڅ ځواب نه شي ویلی، د آزادۍ خوی په خپل ځان کې نه وژني؟ «سارتر»

★ ★ ★

هغه څوک چې ډېره بېړه لري، ښایي ژر ورسېږي...
خو له ډېرې ستومانۍ سره. «سارتر»

★ ★ ★

بشر باید هره لحظه خپل ځان جوړ کړي. «سارتر»

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ ★ ★

«ارزښت» له دې پرته بل څه نه دی، دا موږ یو چې په ارزښت مو منلی دی او هغه ته معنا ورکوو. «سارتر»

★ ★ ★

ښايي ستاسې «نن» په «پرون» بدل شي، مګر امکان لري، ستاسې «سبا» هېڅکله «نن» نه شي. «سارتر»

★ ★ ★

که چېرې غواړئ د منډو وهلو له لارې ځانونه وکړئ، لومړی باید په ښه ډول منډې وهل زده کړئ. «سارتر»

★ ★ ★

ستا د نن غیرت، ستا د اولادو او هېواد د سبانۍ نېکمرغۍ ضامن دی.

«سارتر»

★ ★ ★

انسان د هغو څه مجموعه نه ده، چې دی يې لري، بلکې د هغه څه مجموعه هم ده، چې لا تراوسه يې نه لري، خو د درلودلو توان او ارمان يې لري.

«سارتر»

★ ★ ★

بشر خپل هدف د خپل ځان د ننه نه، بلکې له خپله ځانه يې د باندې لټوي.

«سارتر»

★ ★ ★

انسان باید دا خوی واخلي، چې په لږ شي هم ځان خوشاله کړی شي، که چېرې لږه غوښتنه ولرئ، په لږو شیانو خوشاله کېږئ. هرڅومره چې خپلې اړتیاوې راکمې کړئ، هغومره به دې د ژوند چارې سمې او منظمې شي.

«سارتر»

★ ★ ★

له عمل او چلند پرته، بشر هېڅوک دی. «سارتر»

★ ★ ★

قلم چې هرډول وغواړې خوځي. اصلي خبره دا ده، چې څنګه، د چا لپاره او څه ډول يې خوځوې. «سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوزخ له کومه ځایه پیل کېږي؟ له بندګۍ او اسارت څخه؛ له جنګ او وینې تویولو څخه او له هغو قوانینو څخه چې له موږ څخه آزادي او خپلواکي تروړي. «سارتر»

★ ★ ★

استعداد ذاتي او غریزي دی، مګر د ژوندانه په اوږدو کې د هغو په اندازه باندې زیاتونه کېدلی شي. «سارتر»

★ ★ ★

که چېرې هڅه او کوشش نه وای، بشر به د خپل تمدن څرک هم نه وای لیدلی. «سارتر»

★ ★ ★

انسان نه شي کولی، همېشه نرم ووسي، کله ناکله د شخې او تُندۍ شېبه هم لري. «سارتر»

★ ★ ★

زموږ ارزښت په دې کې دی، چې په ژوند کې څه ډول انتخاب کوو.
«سارتر»

★ ★ ★

بشر د خپلو اعمالو له مجموعې او د خپل ژوند له کشمکش پرته بل هېڅ شی نه دی. «سارتر»

★ ★ ★

په ادبیاتو کې دا هیله مه کوئ، چې همېشه دې یوه کلیمه، یوه معنا ورکړي. «سارتر»

★ ★ ★

په نړۍ کې بشپړه نېکمرغي وجود نه لري، خو ځینې وخت یې نښې نښانې رامعلومېږي. «سارتر»

★ ★ ★

که چېرې کومه مینه او محبت ځان د انسان په عمل او چلند کې راڅرګند نه شي کړی، هغو ته مینه او محبت نه ویل کېږي. «سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشر په لومړي سر کې پخپله رابشپړ شوی موجود نه دی، بلکې د خپلو اخلاقو په ټاکلو او بشپړولو سره ځان جوړوي. «سارتر»

★ ★ ★

هېڅوک نړۍ ته قهرمان نه راځي. «سارتر»

★ ★ ★

د هنر او اخلاقو ترمنځ يو شريک ټکی دا دی، چې دواړه زموږ د نوښت او ابداع له مخې منځته راځي. په نړۍ کې زموږ د عمل او عقل له دخالت پرته نه اخلاق منځته راځي او نه هنر. «سارتر»

★ ★ ★

بشر چې هرمهال نړۍ ته راځي، له داسې راتلونکي سره مخامخ دی، چې هغه بايد په خپله د ځان لپاره وټاکي. «سارتر»

★ ★ ★

فلسفه د پوهېدلو وړ شی ده، نه د يادولو. «سارتر»

★ ★ ★

بشر محکوم دی، ځکه پخپله نه دی راپيدا شوی، خو په عيني حال کې آزاد هم دی، ځکه له کومه وخته چې يې د ځمکې پرمخ ګام ايښی، د ټولو هغو کارونو مسئول دی، چې دی يې ترسره کوي. «سارتر»

★ ★ ★

بشر يو داسې موجود دی، چې تر بل هرڅه زيات خپلې راتلونکي ته زيات‌ه تلوسه لري او يوازنی موجود دی، چې په دې پوهېږي، چې زه راتلونکی لرم. «سارتر»

★ ★ ★

کله چې موږ وايو، بشر د خپل ځان مسئول دی؛ منظور مو دا نه دی، چې ووايو، انسان يوازې د خپل ځانګړي فرديت مسئول دی، بلکې موخه مو دا ده، چې ووايو، هر فرد د بشريت د ټولو افرادو پر وړاندې مسئوليت لري. «سارتر»

★ ★ ★

ستاسې فکرونه ترهغه وخته پورې حقيقت نه بلل کېږي، ترڅو مو په عمل باندې لاس نه وي پورې کړی. «سارتر»

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ ★ ★

د بشر مفهوم يوازې هغه نه دی، چې په خپل ذهن کې يې لري، بلکې هغه دی، چې له خپله ځانه يې غواړي. «سارتر»

★ ★ ★

انسان هغه څه دی، چې دی يې له خپله ځانه جوړوي. «سارتر»

★ ★ ★

د يوه لېوني خبرې د هغه موقعيت په اړه پوچې دي، په کوم کې چې دی دی، مګر په خپله د هغه د لېونتوب په برخه کې پوچې نه دي. «سارتر»

★ ★ ★

هېڅوک نه شي ويلی، چې د نقاشۍ د هنر راتلونکی به څه ډول وي او په هېڅ هغه تابلو باندې قضاوت نه شي کېدای، چې تر اوسه لا انځور شوې نه وي. «سارتر»

★ ★ ★

تاسې آزاد يئ، د آزادۍ لار ځانته په خپله راجوړه کړئ. «سارتر»

★ ★ ★

کله چې موږ وايو، بشر په خپل انتخاب کې آزاد دی، مطلب مو دا دی، چې له موږ څخه هر يو، په پوره خپلواکۍ ځان انتخابوو او څرګندوو، بشر همغه دی، چې خپل ځان يې غوره کړی دی. «سارتر»

★ ★ ★

کله چې زموږ مينه له حيواناتو او ماشومانو سره تر حد واوړي، غير انساني بڼه غوره کوي. «سارتر»

★ ★ ★

د نړۍ ټول دار او مدار داسې دی، چې ګويا ټولو انسانانو د يو او بل په کارونو کې ستر ګې ګنډلې دي او هر يو خپله طريقه او سليقه له يوه او بل څخه تنظيموي. «سارتر»

★ ★ ★

زما په وجود کې داسې زيات په کار نه اچول شوي، استعدادونه، ذوقونه او امکانات شته، چې زما د ژوند ارزښت په هغو پورې تړلي دي، نه په هغو معمولي کارونو پورې چې په ژوند کې يې ترسره کوم. «سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان هغه مهال خپل تصویر په لاس راوړي، چې کله په جدي او مسئولانه توګه له ژوند سره مخامخ شي؛ انسان له دغه تصویر پرته بل هېڅ شی نه دی. «سارتر»

★ ★ ★

بشر له هغو شي پرته بل هېڅ هم نه دی، کوم څه چې ده له خپله ځانه جوړ کړی دی. «سارتر»

★ ★ ★

حتیٰ اخلاص او صداقت که له فکر سره ملګری نه وي، بې حاصله دی.
«سارتر»

★ ★ ★

یوازې انسان هغه اروا ده، چې د سپکاوي او تهمت په وړاندې د دفاع لوری نیسي او په مقاومت لاس پورې کوي. «سارتر»

★ ★ ★

له شکه پرته، زما د ژوند انجام به هم د هغه د پیل په څېر وي، ژوند مې د کتاب په پرانستلو باندې پیل کړ او ښایي د کتاب په بندولو به خاتمه ورکړم. «سارتر»

★ ★ ★

هغه مهال چې تاسې «تلپاتې والی» پکې له لاسه ورکوئ، ژوند مو هم خپله معنا له لاسه ورکوي. «سارتر»

★ ★ ★

آیا ماشومان هغه هنداري نه دي، چې په هغو کې هم د مرګ څېره وینو؟
«سارتر»

★ ★ ★

موږ آزادي د آزادۍ لپاره غواړو او زموږ دغه غوښتنه په هر وخت کې شوني ده. «سارتر»

★ ★ ★

کله چې بډایان جګړه جوړوي، دا فقیران دي، چې ژوند پکې له لاسه ورکوي. «سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



سست عنصره شخص د هغو عمل او چلند له مخې پېژندل کېږي، چې دی یې هر وخت ترسره کوي. هغه څه چې خلک یې په مبهم او ناڅرګند ډول محسوسوي، د هغوی د وېرې او ډار لامل کېږي. همدا لامل دی، کله چې موږ د سست عنصره شخص یادونه کوو، د همدغې سست عنصرۍ او وېرې په سبب یې مقصر او تورن بولو. «سارتر»

★ ★ ★

په عشق کې یو جمع یو، بېرته یو کېږي. «سارتر»

★ ★ ★

موږ یو او بل ته ورته یو، خو په حقیقت کې دغه ورته والی هم د ځان لپاره نقص بولو. «سارتر»

★ ★ ★

کله چې بدمرغۍ او ناهیلۍ له حده اوړي، انسان ته د نېکمرغۍ حقیقت ورمعلوموي او د نړۍ پروړاندې یې ځواکمنوي. «سارتر»

★ ★ ★

خیرنتیاوې په اوبو کې د لاندې لوېږي. «سارتر»

★ ★ ★

موږ چې کله د آزادۍ چیغې وهو، هدف مو دا دی، چې دغه آزادي په نورو خلکو پورې اړه لري او همداسې د نورو خلکو آزادي زموږ په آزادۍ پورې تړلې ده. «سارتر»

★ ★ ★

موږ د هغه صفاتو او انګېزو تابع یو، چې د هغو نښې نښانې په ژور ډول زموږ په زړه او ذهن کې ځان راڅرګندوي. «سارتر»

★ ★ ★

که غواړې په ښه ډول ژوندی پاتې شې، نو په خپل ځان کې ځینې هیلې او غوښتنې ووژنه. «سارتر»

★ ★ ★

په شعر کې کلمات هغسې نه کارول کېږي، لکه په نثر کې چې کارول کېږي. په شعر کې له کلماتو څخه استفاده نه کېږي، بلکې هغو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



استفاده ورکول کېږي... شاعر له ژبې څخه د وسیلې په توګه کار اخیستل پرېږدي او شاعرانه چلند ورسره کوي. «سارتر»

★ ★ ★

د شعر حکم د انځورګرۍ، مجسمه جوړونې او موزیک جوړولو حکم دی، په شعر کې کلمات د نښو نښانو معنا او وظیفه نه لري، بلکې د «شي» په توګه منل کېږي. «سارتر»

★ ★ ★

ژوند له ګډوډۍ او هرج مرج پرته بل هېڅ شی نه دی. «سارتر»

★ ★ ★

ډېر وخت کېږي، چې موږ مړه شوي یو، فقط له هماغه وخته، چې نور د چا په درد نه خورو. «سارتر»

★ ★ ★

انسان د خپل وجود په جال کې نښتی دی او په یوه بیېخي بې مطلبه دنیا کې اوسي، خو له دې سره سره له خپل وجود څخه تېښته نه شي کولی.

«سارتر»

★ ★ ★

«جهان» د احتمالاتو جهان دی او له دې کبله آزاد دی. د راتلونکي دروازه خلاصه ده او تېره هېره ده، نو ټول شیان آزاد دي، دغه بڼ، دغه ښار او حتیٰ په خپله زه. «سارتر»

★ ★ ★

هېڅ شی، تر زړه اسانه نه ماتېږي. «سارتر»

★ ★ ★

زه هېڅکله خپلو باطني افکارو له نورو خلکو څخه د برترۍ احساس ته نه یم هڅولی، له دې مخې له امکاناتو او وسایلو څخه مې پرته خپل ځان تلپاتې توب ته سپارلی دی. «سارتر»

★ ★ ★

په مرګ باندې یو محکوم شوی انسان پوهېږي، چې دده لپاره ټول شیان مجاز دي. «سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په ما يو مجبوريت دی، کله چې خپله آزادي غواړم، نو بايد د نورو آزادي هم وغواړم. «سارتر»

★ ★ ★

موږ په داسې ډول پيداشوي يو، چې سره له دې چې زيات رنځونه او ستونزې پر موږ راتپل شوې، بيا هم غواړو خپل رول په نړۍ کې په ښه ډول ادا کړو. «سارتر»

★ ★ ★

د هستۍ او نېستۍ ترمنځ يوه مرموزه رابطه شتون لري. «سارتر»

★ ★ ★

انسان همېشه بايلوونکی دی، يوازې ناپوهان فکر کوي، چې بايلوونکی نه دی. «سارتر»

★ ★ ★

يو پوچ انسان هېڅکله د ځانوژنې اقدام نه کوي، بلکې غواړي ژوند وکړي او پرته له دې چې سبا ولري، پرته له دې چې اميد او آرزو ولري او پرته له دې چې خپل کار ته تسليم شي، غواړي ژوندی پاتې شي. پوچ انسان خپل وجود د طغيان او سرکشۍ په حال کې تائيدوي. مرګ ته په بې تفاوته نظر ګوري او بالاخره همدغه جادو د نوموړي په وجود کې خپلواکي پوکي. «سارتر»

★ ★ ★

ناروغي کله ناکله کوم ژر تېرېدونکی بحران نه وي، پخپله زما د وجود يوه برخه شي او پخپله «زه» شي. «سارتر»

★ ★ ★

کله چې موږ د سپکاوي او حقارت پر وړاندې نه درېږو او تسليمي غوره کوو، آيا له خپل ځان څخه د ژوند کولو حق نه سلبوو؟ «سارتر»

★ ★ ★

هر ژوندی موجود له کوم دليل څخه پرته زېږي، د ضعف له مخې خپل ژوند ته دوام ورکوي او په تصادف سره مري. «سارتر»

★ ★ ★

امن، عدل، آزادي او مساوات د يوې ټولنې د پرمختګ ضامن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«سارتر»

★ ★ ★

کله چې انسان هېڅ کار نه کوي، نو داسې فکر کوي، لکه ټول کارونه چې دی کوي. «سارتر»

★ ★ ★

موږ چې داسې ناراحته او غم لړلي يو، نور له هېڅ شي نه، يوازې له خپله لاسه يو. «سارتر»

★ ★ ★

د دې لپاره چې نيستي وپېژنو، لومړی بايد پوه شو، چې هستي کومه ده؟ «سارتر»

★ ★ ★

د ژوند چينه د مرګ په خوا بهېږي. «سارتر»

★ ★ ★

موږ اضافي يو، خو نېکمرغي مو دا ده، چې دغه ټکی نه محسوسوو. «سارتر»

★ ★ ★

هېڅوک نه شي کولی، خپله آزادي خپل هدف وټاکي، په داسې حال کې چې د نورو آزادي خپل هدف ونه بولو. «سارتر»

★ ★ ★

ناپوهان نېکمرغه خلک دي، ځکه هېڅکله په دې نه پوهېږي، چې موږ په دې نړۍ کې څومره تنها او يوازې يو. «سارتر»

★ ★ ★

انسان په دنيا کې تنها او لاچاره دی، بېګانه او اجنبي دی، خو که چېرې خپل دغه حالت ته اندېښمن او مضطرب شي، نو د لاچارۍ، بېګانګۍ او تنهايۍ احساس يې نور هم زيا تېږي. «سارتر»

★ ★ ★

مړينه کافي نه ده، بايد پرځای ومرو. «سارتر»

★ ★ ★

له تا سره مينه بل څه نه دي، پرته له دې چې تا وادار کړم، چې له ما سره مينه وکړې. «سارتر»

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ ★ ★

یوازې په غوښتلو او اراده کولو باندې سړی نه شي کولی، قهرمان شي؛ د قهرمان کېدلو لپاره قهرمانه عمل پکار دی. «سارتر»

★ ★ ★

که چېرې په موږ کې دننه کومه پوهه، هوښیاري او معنا نه وي، نو د باندې ټول شیان راته بې معنا او ناپېژاند ښکاري. «سارتر»

★ ★ ★

ځینې وخت یوه وړه بې صبري او تنبلي ددې سبب کېږي، چې ټول هغه څه له لاسه ورکړو، چې د زرګونو هلوځلو پر اساس مو لاسته راوړي دي.

«سارتر»

★ ★ ★

نړۍ ته راتلل او په نړۍ کې شتوالی، د انسان یو اساسي خاصیت دی.

«سارتر»

★ ★ ★

کله چې کوم ماشوم له بدبختۍ سره لاس او ګرېوان کېږي، تر هرڅه لومړی د هغه کمزوری درک، دغه حالت او علت ته بې ځوابه شي.

«سارتر»

★ ★ ★

هېڅوک نه پوهېږي، چې د ستونزو او بحران په وخت کې وفادار خلک کومې خواته مخ اړوي. «سارتر»

★ ★ ★

د خلکو له تصمیم پرته، د سبا تاریخ نه شو اټکلولی. «سارتر»

★ ★ ★

کله چې انسان مړ شي، بیا نو په نړۍ کې ورته «سبا» او «راتلونکی» ارزښت نه لري. «سارتر»

★ ★ ★

هېڅ شی په نړۍ کې بې سببه نه دي پیدا شوي، ټولو موجوداتو هغه که لوی دي او که واړه، په دې نړۍ کې یې ځانګړي ځای نیولی دی.

«سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر انسان په خويونو او عادتونو کې د نورو انسانانو خويونه او عادتونه هم راښکاره کېږي. «سارتر»

★ ★ ★

موږ يوازې هغه مهال د مرګ په فکر کې لوېږو، چې کله د ژوند له ستونزو او ناخوالو سره مخامخ شو. «سارتر»

★ ★ ★

ژوند چې څومره پوچ وي، په همغه اندازه مرګ د «نه زغملو» دی. «سارتر»

★ ★ ★

هر کله چې عقل او درک له انسان څخه سلب شي، د انسان ناوړه څېره راڅرګندېږي. «سارتر»

★ ★ ★

نيستي او نشتوالی، چې کله وروستي حد ته ورسېږي، نو په يوه داسې جنون او لېونتوب بدله شي، چې انسان ترخپل ستوني تېروي او له ځانه سره يې وړي. «سارتر»

★ ★ ★

کله چې انسان پوچ شي او کله چې انسان بې حده ناهيلی شي، ترهرڅه د مخه ورته د «مينې او محبت» کلمې معنا وبايلي. «سارتر»

★ ★ ★

هرڅه پر خپل وخت ترسره کېږي، موږ بايد مخکې له مخکې له يوه کار څخه د پايلې تمه ونه لرو. «سارتر»

★ ★ ★

په انسان کې مخکې له مخکې د ښه والي او بدوالي داسې څه نشته، چې په هغو باندې پوهه او خبرتيا ترلاسه کړي، بلکې دا پوهه او خبرتيا ده، چې په هغو باندې ښه والی او بدوالی معلوموي. «سارتر»

★ ★ ★

ليکل يعنې عمل کول، يعنې تعهد او له خپلې آزادۍ څخه استفاده، مګر بايد خبر ووسې، چې له آزادۍ څخه غلطه ګټه وانخلې. «سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیستي همغه هستي ده، نیستي یو داسې شی ده، لکه هستي او یا لکه د هستۍ ضد، د نړۍ ټول شیان د خپل ضد شیانو سره رابطه لري او که چیرې دغه رابطه نه وي، هستي او نیستي به کوم مفهوم ونه لري.
«سارتر»

★ ★ ★

د یوه مایوسه انسان لپاره نړۍ پوچه او بې معنا اوړي او واړه حوادث ورته د غرونو په شان خپل دروندوالي ښیي. «سارتر»

★ ★ ★

د عمر له تېرېدو څخه چټک شی په ژوند کې نشته، خو ثوک دې ته پام نه کوي. «سارتر»

★ ★ ★

که یو ملت د فاشېزم نړۍ لید ته غاړه کېږدي، راتلونکې به یې له فاشېزم پرته بل څه نه وي. «سارتر»

★ ★ ★

که چیرې کتاب په ښه ډول لیکل شوی وي، ضرر نه لري. «سارتر»

★ ★ ★

په ژوند کې داسې شیان شته، که چیرې مو یو ځل له لاسه ورکړل، بیا به یې هېڅکله تر لاسه نه کړو. «سارتر»

★ ★ ★

د انسان په ضمیر کې مخکې له مخکې د ښه والي او بدوالي فطري میل نشته، ښه والی او بدوالی انسان په ژوند کې زده کوي او وروسته خپل ځان ورسره جوړوي. «سارتر»

★ ★ ★

زما ټول کتابونه د یوه وږي ماشوم لپاره هېڅ ارزښت نه لري. «سارتر»

★ ★ ★

په ژوند کې زیات تصمیمونه شته، خو موږ باید ټول تصمیمونه ونه نیسو. «سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



اګزیستانسیالیستان هېڅ وخت یو انسان په وروستۍ توګه نه تعریفوي، دا ځکه چې انسان تل د تعریف کېدو په حال کې دی.
«سارتر»

★ ★ ★

انسان د خپلې لارې په ټاکلو سره د ټولو انسانانو لارې ټاکي. «سارتر»

★ ★ ★

هېڅوک نه شي کولی، ترهغو وخته آزاد ووسي، ترڅو چې د نورو انسانانو آزادیو ته احترام ونه لري. «سارتر»

★ ★ ★

د نویو جزیرو د کشف لپاره باید، د سمندر غاړو د پرېښودلو جرئت ولرو، د غه نړۍ د دقت نړۍ ده، نه د قسمت. «سارتر»

★ ★ ★

موږ نه شو کولی، په هر کار باندې لاس پورې کړو، د هرشي او هرکار انتخابول سم نه دي، انتخاب په یوه معنا د «ممکن» معنا لري، په دې اساس هغه څه چې ممکن نه دي، بې انتخابي یا انتخاب نه کول دي. موږ تل کولی شو، په آزادانه ډول انتخاب وکړو، خو په دې باید پوه وو، که چېرې انتخاب ونه کړو، بیا مو هم یو انتخاب کړی دی. «سارتر»

★ ★ ★

هېڅکله هغه ور مه ډبوه، چې نه پوهېږې، شا ته یې څه تېرېږي. «سارتر»

★ ★ ★

«د کارت» چې کله غوښتل، د جسم او روح ترمنځ رابطه کشف کړي، له ستونزو سره مخ شو، دا ځکه چې د جسم او روح ترمنځ مشخصه پوله وجود نه لري. «سارتر»

★ ★ ★

دومره جرئت پکار دی، چې وکولی شې، هرڅه له لاسه ورکړې، ځکه یوه ورځ نه یوه ورځ هغه څه انسان له لاسه ورکوي، چې د ټول عمر په هڅه او تلاش یې لاسته راوړي دي. «سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه تل کولی شم، په خپلوا که توګه انتخاب وکړم، خو باید پوه وم، که چېرې هېڅ انتخاب هم ونه کړم، نو په واقعیت زما دغه نه انتخاب هم یو انتخاب دی. «سارتر»

★ ★ ★

فکر زما د وجود یوه برخه ده، په دې اساس نه شم کولی، د خپل فکر مانع ووسم. «سارتر»

★ ★ ★

آزادي ددې لامل کېږي، چې انسان ته ددې فرصت ورکړي، چې د هغو باورونو د راپرځولو لپاره ګام واخلي، چې ټول عمر یې د هغه تر اسارت لاندې ژوند کړی. «سارتر»

★ ★ ★

ډاکتران، چارواکي، قاضیان او مذهبي مشران، نورو انسانانو ته په داسې نظر ګوري، لکه دوی چې پیدا کړي وي. «سارتر»

★ ★ ★

کومه فلسفه چې په احتمالاتو ولاړه وي او پرحقیقت باندې نه راڅرخي، پخپله ژبه خپل ځنکدن اعلانوي. «سارتر»

★ ★ ★

بشر ترهرڅه وړاندې یوه «طرح» ده، چې په خپله ځان پالنه کې ځان بشپړوي. «سارتر»

★ ★ ★

حتیٰ که چېرې یو شخص له مور څخه فلج نړی ته راشي، نو که چېرې د سپورټ اتل نه شي، مسئولیت به یې په خپله غاړه وي. «سارتر»

★ ★ ★

یوازنی شی چې زما فکرونه مشغولوي، هغه دا دي، چې له ژوند څخه به د مرګ پرمهال زه ډېر یوازې وم. «سارتر»

★ ★ ★

ترټولو زیات غمګین کسان هغه دي، چې ترټولو زیات خاندي.

«سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان محکوم دی چې آزاد ووسي، ځکه دنیا ته په راتګ سره د خپلو کارونو مسئول دی. «سارتر»

★ ★ ★

موږ چې کله نړۍ ته راځو، په خپل ځان کې وجود لرو، خو دا چې څه ووسو، دغه ټکی په هغو تصمیمونو پورې اړه لري، چې موږ یې د ځان لپاره نیسو. «سارتر»

★ ★ ★

مه پرېږدئ چې بچیان مو وژاړي، ځکه باران هم غنچې له منځه وړي.

«سارتر»

★ ★ ★

موږ ته د خپل ځان کشفونه، د نورو انسانانو د کشفونې او پېژندنې لامل هم کېږي. «سارتر»

★ ★ ★

کله چې غواړم یو حقیقت د خپل ځان په اړه ثابت کړم، باید له نورو خلکو څخه لیدنه او کتنه وکړم، نور وګړي زما د وجود لازمه دي، په دې توګه د ځان د پېژندنې لپاره، د نورو خلکو وجود هم لازم دی. «سارتر»

★ ★ ★

انسان محکوم دی، چې یوازې تصمیم ونیسي او محکوم دی، چې تل آزاد ووسي. «سارتر»

★ ★ ★

زه دین نه لرم، خو که چېرې مې غوښتی، د ځان لپاره کوم دین وټاکم، هغه به د شریعت لاره وی. «سارتر»

★ ★ ★

هغه څوک چې زیاتې خبرې کوي، کم کار یې له لاسه کېږي. «سارتر»

★ ★ ★

زموږ لپاره به هغه شی ښه نه وي، چې د نورو ټولو لپاره ښه نه دي.

«سارتر»

★ ★ ★

موږ باید د خپلې آزادۍ لپاره، د ټولو انسانانو آزادي په نظر کې ونیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«سارتر»

★ ★ ★

انسان نړۍ ته په راتګ سره د ټولو هغو کارونو د ترسره کولو مسئولیت لري، کوم چې د ی یې غواړي. «سارتر»

★ ★ ★

زموږ لومړۍ خاصیت ژوند او شتوالی نه دی، بلکې عدم او نشتوالی دی.

«سارتر»

★ ★ ★

څه شی چې زموږ لپاره ښه دي، د نورو لپاره هم ښه دي. «سارتر»

★ ★ ★

د بلوط دانه پرته له دې چې د بلوط په ونه بدله شي، بله لار نه لري.

«سارتر»

★ ★ ★

دا انسان دی، چې د خپلو اعمالو چوکاټ «باید» مشخص کړي.

«سارتر»

★ ★ ★

یو انسان مخکې له دې چې په یوه زړور، یا ډارن، یا مسیحي، یا محافظه کار او یا سوسیالیست بدل شي، شته والی او وجود مومي. له دې مخې یوازې په انسان کې ده، چې وجود پر ماهیت باندې مخکې والی لري؛ موږ شته یو او مخکې له دې چې په هرڅه بدل شو، خپلواک یو. «سارتر»

★ ★ ★

یو انسان هغه مهال د زړه تنګی احساس کوي، چې د ټولو شیانو وجود په نړۍ کې تر اندازې زیات او اضافه ویني. دغه اضافه والی انسان نه یوازې په چاپېریال کې احساسوي، بلکې د خپل وجود دننه یې هم احساسوي. «سارتر»

★ ★ ★

ولې یو سړی ډارن او بې کفایته دی، دا ځکه چې هغه پخپله د ځان لپاره د ډار او بې کفایتی تصمیم نیولی دی. «سارتر»

(c) ketabton.com: The Digital Library



★ ★ ★

احساسات مخکې له دې چې د یوه ځواک په توګه زموږ وجود سر ترنو که ونیسي، د چال چلند یوه نمونه ده، چې منلې او راخپله کړې مو ده.

«سارتر»

★ ★ ★

ټول وخت بډایان له بېوزلانو سره پېغور وزمه همدردي ښیي. «سارتر»

★ ★ ★

زموږ ټولو دا غوښتنه ده، چې آزاد او مسئول ژوند وکړو. «سارتر»

★ ★ ★

هرڅوک کولی شي ووایي، غواړم یو اوچت لوبغاړی، لوی عالم او یا لوی عاشق جوړ شم، خو له بده مرغه، دا هرڅه یوازې په الفاظو کې وي.

«سارتر»

★ ★ ★

ارزښتونه زموږ له اعمالو څخه را الوزي، هماغه ډول لکه کوم وخت چې په باغ کې قدم وهو او زموږ په راتګ سره مرغان له ونو الوزي. «سارتر»

★ ★ ★

د انسان لپاره ترخپلو اعمالو ورهاخوا، نور اسرار او رازونه هم شته.

«سارتر»

★ ★ ★

موږ آزاد یو، خو په عین وخت کې له خپلې آزادۍ څخه وېره هم لرو.

«سارتر»

★ ★ ★

زموږ آزادي له دغه حقیقت سره تړلې ده، چې هېڅکله نه شو کولی، له هغو پوهې او خبرتیا څخه ځان وژغورو، چې زموږ له هستۍ او شتوالي سره تړاو لري. «سارتر»

★ ★ ★

په نړۍ کې له هغو هدف څخه پرته چې موږ یې ټاکو، بل هېڅ هدف نشته.

«سارتر»

★ ★ ★

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انسان هغه مهال د نورو په حق او اختیار باندې هم پوهېږي، کله چې خپل ځان د نورو انسانانو په حضور کې احساس کړي. «سارتر»**

★ ★ ★

**په دغه نړۍ کې د انسان مسئولیت تردې زیات دی، لکه څنګه چې دی فکر کوي. «سارتر»**

★ ★ ★


(c) ketabton.com: The Digital Library

# سارتر په انځورونو کې



(c) ketabton.com: The Digital Library





**«سارتر د ۸ میاشتو په عمر»**

سارتر له ماشومتوب نه ترځوانۍ پورې













(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library




سارتر په ځوانۍ کې


(c) ketabton.com: The Digital Library






**سارتر او دوبوار په ۱۹۶۰م کال د کیوبا د چریکو جګړو له رهبر «چه ګوارا» سره د خبرو په حال کې**





**د سارتر مورني نیکه**

«شارل شوایتزر»



(c) ketabton.com: The Digital Library





**سارتر او سیمون دوبوار**



(c) ketabton.com: The Digital Library






**سارتر او سیمون دوبوار په کتابتون کې**

*مارتین هایدګر*



(c) ketabton.com: The Digital Library





سارتر په زړبودۍ کې



(c) ketabton.com: The Digital Library





**سارتر د مطالعې پرمهال**



**سارتر د پلي تګ پرمهال**



**سارتر د وینا پرمهال**

**له سارتر څخه د خلکو استقبال**

(c) ketabton.com: The Digital Library





سارتر او د خلکو استقبال



د سارتر ملګری
«البرټ کامو»

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د سارتر قبر**

**چې تر څنګ يې د سيمون دوبوار قبر هم ښکارېږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرچينې:


۱ : اگزیستانسیالیسم و اصالت بشر، نویسنده: ژان پل سارتر، ترجمه: دکترمصطفی رحیمي

۲ : کلمات، نویسنده: ژان پل سارتر، ترجمه: حسینقلي چراهرچري

۳: ادبي څېړنې، لیکوال: څېړندوی محمدصدیق روهي

۴: مکتبهای ادبی، جلد ۲، مولف: رضا سید حسیني

۵: بیگانه، نویسنده: البرت کامو، ترجمه: جلال آل احمد و علی اصغر خبره زاده

۶: تهوع، نویسنده: ژان پل سارتر، برگردان: امیرجلال الدین اعلم

۷: هستي و نیستي، نویسنده: ژان پل سارتر، ترجمه: عنایت الله شکیبا پور

۸: ځانځاني بنامار، پوهاندډاکتربهاوالدین مجروح

۹: اوسني لیکوال، مولف: عبدالروف بېنوا

۱۰: نسیم معرفت، تالیف: سعید ارزمي

۱۱: بزرگان چه گفته اند؟، مولف: حبیب شاملویي

۱۲: نوې شاعري، مولف: ډاکترحنیف خلیل

۱۳: گنجینه سخن، گردآورنده: جمشید محبوبي

۱۴: دورېښمو تول، لیکوال: عبدالغفور لېوال

۱۵: لټون ، دغني خان کلیات، دزبیرحسرت په زیار

۱۶: زندگینامه ی معروفترین دانشمندان و مخترعان جهان، محمدمسعود مولیایي

۱۷: اندیشه های مردان بزرگ، تالیف و ترجمه: مهرداد مهرین

۱۸: د شعر درناوی، لیکوال: محمد اکبر کرگر

۱۹: گفته ها و نکته ها، محمدشریفي، بارانه عمادیان.

۲۰: د گوربت مجلې په دویمه گڼه کې د استاد اسمایي مقاله، ۱۳۸۱هـ کال.

۲۱: تاریخ فلسفه، نویسنده: ویل دورانت، ترجمه: عباس رزیاب

۲۲: فلسفه د جنون او جانان، لیکوال: سیدعابدجان، سریزه د امین الله دریځ

۲۳: فلسفه څه ده؟ لیکوال: عبدالرحیم دُرانی

۲۴: فلسفه، مؤلف: محمد نادر ایوبي

۲۵: ادبیات او د انسان نننۍ نړۍ، لیکوال: محمد اکبر کرگر

۲۶: سارتر، نویسنده: فلیپ مالکوم والرتادی، مترجم: روزبه معادی

۲۷: د ادب د تیورۍ اساسونه، دویم چاپ، مولف: سرمحقق دوست شینواری

۲۸: fa.wikipedia.org

۲۹: www.google search.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**